وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدۡعُونِيٓ أَسۡتَجِبۡ لَكُمۡ. (مؤمن: ٦٠)

# دعاء المؤمن


إعداد و ترتيب:

مولوي عبدالحى "عابد"

مدرس بجامعة العلوم الاسلامية العثمانية



النشر و التوزيع:

إدارة التاليف للجامعة العثمانية

الناحية الثانية، قندهار، افغانستان

# کتاب پېژندنه

☜ د کـــتاب نوم: دعاء المؤمن
☜ د لیکوال نوم: مولوي عبدالحی "عابد"
☜ بیا کـــــــتنه: اساتذة الجامعة
☜ کمپوز: ابو محمد مزمل
☜ اوودنه: فضل غني "فیصل"
☜ پنځم چاپ: ١٤٤٥ صفر
☜ د چاپ شمېر: ۵۰۰۰ ټوکه
☜ چاپ چاري: دجامعې اداره
☜ خپرونکی: جامعة العلوم الاسلامیة العثمانیة

یادونه: د کتاب ټول چاپي حقوق د خپرونکي اداري سره اړه لري.

بسم الله الرحمن الرحيم

# فهرست


| عنوان | صفحه |
|---|---|
| مسجد ته د داخلېدلو طريقه او دعاء | ٦ |
| د مسجد څخه د وتلو دعاء او طريقه | ٧ |
| د بيت الخلاء څخه د راوتلو دعاء او طريقه | ٨ |
| د اوداسه د شروع دعاء او د هغه فائده | ٨ |
| د اوداسه د مينځ دعاء | ٩ |
| د اوداسه څخه وروسته دعاء او د هغه فائده | ٩ |
| د آذان د جواب ورکولو طريقه | ١٠ |
| د آذان څخه وروسته دعاء | ١١ |
| د آذان او اقامت په مينځ کښي دعاء | ١٢ |
| د لمانځه دعاوي | ١٣ |
| د رکوع دعاء | ١٣ |
| د رکوع څخه د پورته کېدلو دعاء | ١٤ |
| د سجدې په وخت کښي دعاء | ١٤ |
| د دوو سجدو په مينځ کي دعاء | ١٥ |
| د درود شريف څخه وروسته تر سلام مخکي دعاء | ١٥ |
| د سلام گرځولو څخه وروسته اذکار | ١٦ |
| د هر لمانځه څخه وروسته وظيفه | ١٦ |
| سهار او ماښام د لمانځه څخه وروسته وظيفه | ١٨ |
| د بيدېدلو سنت طريقه او دعاوي | ٢٠ |
| د بيدېدلو په وخت کي ويل کېدونکي سورتونه | ٢١ |

تسبیحات فاطمي ........................... ۲۳
د سهار دعاء............................................. ۲٤
د ماښام دعاء ........................................... ۲٤
د خوب څخه د پورته کېدلو دعاء ........................... ۲۵
د ډوډۍ خوړلو څخه مخکي دعاء ........................... ۲۵
د ډوډۍ خوړلو څخه وروسته دعاء ......................... ۲٦
د سترخوان د پورته کېدلو پر وخت دعاء ...................... ۲۷
د مېلمه دعاء و کوربه ته ............................. ۲۷
د شیدو چیښلو څخه وروسته دعاء ........................... ۲۷
د استغفار کلمې ............................................. ۲۸
سید الاستغفار ............................................ ۲۸
د توحید د کلمې فضیلت ................................... ۳۰
صلوة الحاجة ............................................... ۳۱
د استخارې د لمانځه دعاء .................................. ۳۲
د درود شریف فائدې.......................................۳۳
د بخښني او د دوږخ څخه د خلاصون دعاء.................. ۳٤
د نورو مسلمانانو لپاره د بخښني دعاء........................۳۵
د مور او پلار لپاره د رحمت دعاء ...........................۳۵
دښمن ته د ښرا کولو دعاء.................................۳۵
د علم د زیاتېدو دعاء.....................................۳٦
د سینې د خلاصېدو او د کار د اسانه کېدو دعاء ...................۳٦
د هر مصیبت څخه د خلاصون دعاء ...........................۳٦

د کور څخه د وتلو دعاء ........................................۳۷
کور ته د ننوتلو دعاء.................................................۳۷
بازار ته د ننوتلو دعاء................................................۳۷
د مریضي څخه د شفاء غوښتلو دعاء ...................................۳۸
د شیطانانو څخه د محفوظ کېدو دعاء....................................۳۹
د هر خیر د طلب کولو دعاء............................................۳۹
د دښمنانو څخه د انتقام اخیستلو دعاء ..................................۳۹
د ظالمانو څخه د نجات حاصلولو دعاء....................................۳۹
د سودا په وخت کښي د نقصان څخه د ساتني دعاء .......................٤۰
د کالو اغوستلو دعاء...................................................٤۰
د نوي کالو اغوستلو دعاء...............................................٤۱
څوک چي نوي جامې واغوندي هغه لره دعاء ............................٤۱
د کالو کښلو دعاء.....................................................٤۲
واده کوونکي ته دعاء .................................................٤۲
د ترچي دعاء...........................................................٤۲
د کافر د ترچي جواب ..................................................٤۳
د روژې ماتولو دعاء ...................................................٤۳
د روژې ماتولو څخه وروسته دعاء .....................................٤۳
د چا په کور کي چي روژه ماته کړې هغه لره دعاء.......................٤٤
څوک چي په چا اوبه وچیښي هغه ته دعاء.................................٤٤
په هنداره کښي د کتلو دعاء ...........................................٤٤
د مجلس په پای کښي دعاء.............................................٤۵

د نوي میاشتي لیدلو دعاء ............................. ٤٥
د سفر د ارادې کولو پر وخت دعاء ......................... ٤٥
د سپرېدو دعاء............................................ ٤٦
د مقیم دعاء مسافر ته ..................................... ٤٦
د مسافر دعاء مقیم ته ..................................... ٤٧
د مسافر دعاء کور ته د داخلیدو په وخت کښي ................. ٤٧
کله چي یو مسلمان په خندا ووینې هغه ته دعاء ............... ٤٧
د دښمن څخه د بیري پر مهال دعاء ........................... ٤٨
د پرېشانۍ په وخت کښي دعاء ................................ ٤٨
د وسوسې یا د غصې راتلو په وخت کښي دعاء .................. ٤٨
د لیلة القدر دعاء......................................... ٤٨
چا چي احسان در سره وکړی هغه ته دعاء........................ ٤٩
د قرض اداء کولو دعاء ...................................... ٤٩
د اولنۍ مېوې د لیدلو پر وخت دعاء........................... ٤٩
د مصیبت ځپلي کس د لیدلو پر وخت دعاء ..................... ٥٠
د باران اورېدلو په وخت کښي دعاء .......................... ٥٠
د وریځي د راتلو په وخت کښي دعاء........................... ٥٠
د باران اورېدلو وروسته دعاء ............................... ٥١
د ډېر او سخت باران اورېدلو پر مهال دعاء..................... ٥١
د تالاندي د آواز اورېدلو پر مهال دعاء........................ ٥١
د استسقاء لپاره دعاء ....................................... ٥٢
د مریض د پوښتني کولو فضیلت ................................ ٥٢

**د مریض د پوښتنې پر وخت هغه ته دعاء ............................. ۵۳**
**له ژوند څخه د نا امیده مریض دعاء ............................... ۵٤**
**د هر مرض د لیرې کولو دعاء ....................................... ۵۵**
**مړي ته په جنازه کښې دعاء........................................... ۵۶**
**د کوچني د جنازې دعاء .............................................. ۵۷**
**د مړي د ښخولو په وخت کښې دعاء ............................... ۵۸**
**د مړي تر ښخولو وروسته دعاء ....................................... ۵۸**
**د تعزیت کولو دعاء .................................................... ۵۹**
**د قبرونو د زیارت کولو دعاء ........................................ ۵۹**
**د حج او عمرې تلبیه .................................................. ۶۰**
**د زمزم د اوبو چیښلو پر وخت دعاء ................................ ۶۰**
**د بیت الله شریفې د طواف پر وخت دعاء........................... ۶۰**
**د قربانۍ کولو په وخت کښې دعاء ................................. ۶۱**
**پای....................................................................... ۶۲**

الحمدلله مجيب الداعين والصّلوٰة والسلام علىٰ خاتم المرسلين وسيد الهادين سيدنا محمد افضل الخلائق اجمعين وعلىٰ اٰله و اصحابه حماة الحق المبين و محاة الكفر والشرک من العالمين. أمابعد!

## د دعاء غوښتلو فضيلت

۱:په حديث شريف کښي راغلي دي، چي رسول اللهﷺ وفرمايل:

﴿الدُّعَاءُ هُوَ الْعِبَادَةُ﴾.(۱)

ژباړه: دعاء غوښتل بعينه عبادت دی.

دعاء ځکه بعينه عبادت دی، چي د زړه په پوره توجه او اخلاص سره د الله جل جلاله په وړاندي د عاجزۍ لاسونه نيول کيږي، زارۍ کول کيږي او په دعاء غوښتلو کښي د عبديت (بنده ګۍ) کامل اظهار کيږي؛ همدغه وجه ده چي هيڅ يو عبادت د دعاء څخه خالي نه دی پاته سوی، لکه څنګه چي د لاندي ايت څخه څرګنديږي.

وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدْعُونِيٓ أَسْتَجِبْ لَكُمْ ۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ ﴿٦٠﴾ (سورة المؤمن:۶۰)

(۱) سنن الترمذي: ابواب الدعوات ۲-باب،(رقم الحديث: ۳۳۹۱) ط:البشری.

ژباړه: او ستاسي رب فرمايلي دي، چي زما څخه دعاء غواړئ زه به ستاسو دعاء قبلوم، کوم خلګ چي (د تکبر لکبله) زما د عبادت څخه سرغړونه کوي هغوی به د ذلت په حال کښي جهنم ته داخليږي.

۲:په يو بل حديث شريف کښي راغلي دي، چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د دعاء څخه ماسېوا هيڅ شی قضاء (د تقدير فيصله) ردولای نسي او د نيکۍ څخه ماسېوا هيڅ شی عمر زيا تولای نسي. (۱)

۳: په يوبل حديث شريف کښي راځي، چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم انسان چي دا غواړي، چي الله تعالی ﷻ د سختيو او مصيبتونو په وخت کښي د هغه دعاء قبوله کړي؛ نو هغه ته پکار ده، چي په فراخي او خوشحالي کښي هم په کثرت سره دعاء وغواړي. (۲)

۴: په يو بل حديث شريف کښي راغلي دي، چي رسول اکرم ﷺ وفرمايل: دعاء د مومن سلاح ده، د دين ستن ده او د آسمانونو او مځکو نور دی. (۳)

---

(۱) سنن الترمذي: باب ماجاء لا يرد القدر الا الدعاء، (رقم الحديث: ۲۱۳۹) عن سلمان رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ لا يرد القضاء الا الدعاء، ولايزيد فی العمرالا البر. باب ماجاء لا يرد القدر الا الدعاء، (رقم الحديث: ۲۲۴۰).

(۲) مشكوة المصابيح: كتاب الدعوات الفصل الثاني، (رقم الحديث: ۲۲۴۰)، سنن الترمذي: ابواب الدعوات،۹-باب، (رقم الحديث: ۳۴۰۰)،ط: رشيديه.

(۳) مستدرک حاكم: عن علي رضي الله عنه قال:قال رسول الله ﷺ الدعاء سلاح المؤمن وعماد الدين،كتاب الدعاء،والتكبير،والتهليل،والتسبيح،(رقم الحديث: ۱۸۱۲).

۵: په یو بل حدیث شریف کښې راځي، چي یو ځل رسول اللهﷺ د یو داسي قوم په خوا کښې تېر سو، چي هغوی په څه مصیبت کښې اخته وه (نو د هغوی د حالت په لیدلو ئې)وفرمایل: آیا دې خلکو د الله تعالی ﷻ څخه د عافیت دعاء نه غوښتله؟ (۱)

## د دعاء غوښتلو آداب

د دعاء غوښتلو ځیني آداب داسي دي، چي د رکن درجه لري او ځیني ئې د شرط درجه لري (بعضي ارکان دي او بعضي شرطونه) او ځیني آداب مامورات دي، چي د هغو د اختیارولو حکم ورکړل سوی دئ او څه بیا منهیات دي، چي د هغو څخه منع سوې ده. لاندي د ټولو آدابو تعین سوی دئ.

## د دعاء غوښتلو مستحبات

۱: د دعاء غوښتلو څخه مخکي څه نېک کار کول،مثلاً صدقه ورکول، لمونځ کول او داسي نور؛ یا د سختیو او مصیبتونو په وخت کښې خپل نېک اعمال الله ﷻ ته وسیله کول.

۲: د دعاء غوښتلو څخه مخکي اول خپل بدن او جامه پاکول.

۳: اودس کول.

---

(۱) مجمع الزوائد:کتاب الجنائز،باب فی المعانی الشاکر والمبتلی الصابر،(رقم الحدیث: ۳۷۲۷).

۴: د قبلې طرف ته مخ کول.

۵: د دعاء غوښتلو څخه مخکې "صلوة الحاجة" د حاجت لمونځ کول.

۶: د دعاء غوښتلو لپاره د لمانځه د ناستې په شان کښېنستل.

۷:د دعاء غوښتلو څخه مخکې او وروسته د الله ﷻ حمد او ثناء ویل.

۸: همدغه شان د دعاء په اول او اخر کښې پر نبي کریم ﷺ باندې درود او سلام ویل.

۹:د سوالګر په شان د الله ﷻ په دربار کښې دواړه لاسونه پورته کول.

۱۰: دواړه لاسونه تر اوږو پورې پورته کول.

۱۱: په ډېره عاجزۍ او زاریو سره د الله ﷻ څخه دعاء غوښتل.

۱۲: د الله ﷻ څخه د اسماء الحسنی او لوړو صفاتو په وسیله دعاء غوښتل.

۱۳: د انبیاء عليهم السلام په وسیلې سره دعاء غوښتل.

۱۴: په کښته اواز دعاء غوښتل.

۱۵: د خپلو ګناهونو اقرار کول.

۱۶: اول دې د خپل ځان لپاره دعاء شروع کړي او بیا دې د خپل مور او پلار او حقدارانو ته درجه پر درجه او ټولو مؤمنانو ته دعاء وکړي.

۱۷:په ډېر شوق سره دې دعاء وغواړي په مات زړه دې دعاء نه غواړي.

۱۸:د یو مقصد لپاره دي په وارو وارو دعاء وغواړي، چي لږ تر لږه باید درې ځله وي.

۱۹:په دعاء کي دي تجاوز نکوي (چي د یو ناممکن شي دعاء وغواړي).

۲۰:خپل ټول حاجتونه، که لوی وي او که کوچني د الله ﷻ څخه دې وغواړي.

۲۱ : د دعاء غوښتونکی او اورېدونکی دواړه دي آمین ووایي.

## د دعاء ځیني ارکان او شرطونه

۱: د زړه له تله دي په ډېره توجه سره دعاء وغواړي او پر الله ﷻ دي ښه ګمان وساتي.(رکن)

۲ : دعاء به په اخلاص سره وي.(رکن)

۱: د دعاء کوونکي خوراک، چیښاک، جامه او روزي به ټوله پاکه او حلاله وي.(شرط)

۲ : د یوې ګناه یا قطعه رحمی دعاء دي نه کوي. (شرط)

۱ : د الله ﷻ په رحمت کښي دي تنګي نه کوي، مثلاً داسي ووایي چي یا الله ته یوازي زما مغفرت وکړې. (مکروه)

بسم الله الرحمن الرحيم

نَحْمَدُهُ وَنُصَلِّيْ عَلٰی رَسُوْلِهِ الْـــكَرِيْمِ أمابعد!

## مسجد ته د داخلېدلو طريقه او دعاء

﴿بِسْمِ اللّٰهِ، وَالسَّلاَمُ عَلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ ذُنُوْبِيْ وَافْتَحْ لِيْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ﴾ (۱)

ژباړه: د الله تعالی په نامه سره (مسجد ته داخلېږم) او د الله ﷻ پر رسول دي زما سلام وي. اې الله ﷻ زما ګناهونه وبخښې او زما لپاره د خپل رحمت دروازې خلاصې کړې.

**يا دا دعاء وواياست:**

﴿صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّسَلَّمَ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ ذُنُوْبِيْ وَافْتَحْ لِيْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ﴾ (۲)

**مسجد ته د داخلېدو طريقه:**

مسجد ته اول را ښته پښه داخله کړئ او بيا چپه پښه؛ خو د چپلکو په ايستلو کښې اول چپه چپلکه وباسئ، وروسته راسته چپلکه وباسئ.

---

(۱) ابن ماجه: ابواب المساجد۱۳- باب، (ص:۲۹۴)، (رقم الحديث: ۷۷۱)ط: البشرى.

(۲) مسند احمد: مسند فاطمة بنت رسول الله ﷺ، (رقم الحديث: ۲۶۴۱۷).

## د مسجد ښخه د وتلو دعاء او طريقه

﴿بِسْمِ اللهِ، وَالسَّلَامُ عَلىٰ رَسُوْلِ اللهِ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ ذُنُوْبِيْ وَافْتَحْ لِيْ اَبْوَابَ فَضْلِكَ﴾ (١)

ژباړه: د الله ﷻ په نامه سره د مسجد ښخه راوځم او د الله ﷻ پر رسول ﷺ دي زما سلام وي، اې الله ﷻ زما ګناهونه وبخښې او زما لپاره د خپل فضل دروازې خلاصې کړې.

**يا دا دعاء  وواياست**:

﴿صَلَّى اللهُ عَلىٰ مُحَمَّدٍ وَّسَلَّمَ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ ذُنُوْبِيْ وَافْتَحْ لِيْ اَبْوَابَ فَضْلِكَ﴾ (٢)

**د مسجد ښخه د وتلو طريقه**: اول چپه پښه راوباسئ، او پر چپلۍ ئې کښېږدئ، بيا راسته پښه راوباسئ، راسته چپلۍ په پښو کړئ، وروسته چپه څپلۍ په پښو کړئ.

## بيت الخلاء ته د تللو دعاء او طريقه

﴿بِسْمِ اللهِ، اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُبِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ﴾ (٣)

---

(١) ابن ماجة: ابواب المساجد١٣- باب، (رقم الحديث: ٧٧١)، ط: البشرى.

(٢) مسنداحمد: مسندالنساء، مسندفاطمة بنت رسول الله ﷺ، (رقم الحديث: ٢٦٤١٦).

(٣) صحيح البخارى: باب مايقول عندالخلاء، (رقم الحديث: ١٤٢).

ژباړه: د الله ﷻ په نامه سره شروع کوم ، اې الله ﷻ زه په تا سره پناه غواړم د خبیثو نارینه پېریانو او خبیثو ښځینه پېریانو د شر څخه.

**فائده**: ددې دعاء په ویلو سره انسان د پېریانو د شر څخه ساتل کیږي او د پېریانو څخه په پرده کي راځي.

**بيت الخلاء ته د ننوتلو طريقه**: اول چپه پښه داخله کړئ بیا راسته پښه.

## د بيت الخلاء څخه د راوتلو دعاء او طريقه

﴿غُفْرَانَكَ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ اَذْهَبَ عَنِّى الْاَذٰى وَعَافَانِىْ﴾ (۱)

ژباړه: اې الله ﷻ زه ستا څخه بخښنه غواړم، ټول صفتونه هغه الله ﷻ لره دي، چي زما څخه ئې تکلیف لیري کړ او ماته ئې سکون او سلامتي راکړه.

**د بيت الخلاء څخه د راوتلو طريقه**: اول راسته پښه راوباسئ، ورپسې چپه پښه.

## د اوداسه د شروع دعاء او د هغه فائده

﴿بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيْمِ﴾ (۲)

---

(۱) ابن ماجة: باب مايقول اذاخرج من الخلاء، (رقم الحديث: ۳۰۱)، سنن الترمذي: باب مايقول اذاخرج من الخلاء، (رقم الحديث: ۷).

(۲) سنن الترمذي: باب فى التسمية عند الوضوء، (رقم الحديث: ۲۵)، سنن النسائي: باب التسمية عند الوضوء، (رقم الحديث: ۷۸).

ژباړه: د الله جل جلاله په نامه سره شروع کوم او ټوله ثنا او صفت خاص الله جل جلاله لره دی.

**فائده**: د دې دعاء په ویلو سره د ټوله بدن صغیره ګناوي رژیږي او تر څو چي په اوداسه وي ملایکه نېکۍ ورته لیکي.(۱)

## د اوداسه د مینځ دعاء

﴿ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِیْ ذَنْبِیْ، وَ وَسِّعْ لِیْ فِیْ دَارِیْ، وَ بَارِکْ لِیْ فِیْمَا رَزَقْتَنِیْ ﴾ (۲)

ژباړه: اې الله جل جلاله زما ګناه را وبخښې او زما په کور کښي پراخي راولې او زما په روزي کښي برکت را واچوې.

## د اوداسه څخه وروسته دعاء او د هغه فائده

﴿ اَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَاشَرِیْکَ لَهُ، و اَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ، اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِیْ مِنَ التَّـوَّابِیْنَ، وَاجْعَلْنِیْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِیْنَ ﴾(۳)

---

(۱) ابن حبان: ذکر البیان بان الله انما یغفر ذنوب المتوضئ بعد فراغه منه اذا توضأ کما أُمر، (رقم الحدیث: ۱۰۴۲).

(۲) سنن الترمذي: باب بلا عنوان، (رقم الحدیث: ۳۵۰۰)،صحیح الجامع: عن ابي موسی (في رِزْقِی) (رقم الحدیث: ۱۲۶۵).

(۳) سنن الترمذي: باب ما یقال بعد الوضوء، (رقم الحدیث: ۵۵)، صحیح مسلم: باب الذکرالمستحب عقب الوضوء، (رقم الحدیث: ۲۳۴).

ژباړه: زه شاهدي ورکوم چي د الله ﷻ څخه ماسېوا هيڅ معبود نسته او زه شاهدي ورکوم، چي محمد ﷺ د الله تعالی بنده او د هغه رسول دی. اې الله ﷻ! ما د زيات توبه کوونکو کسانو څخه وګرځوې او د ښه پاکي کوونکو کسانو څخه مي وګرځوې.

**فائده**: د دې دعاء په ويلو سره د جنت اته دروازې خلاصيږي، د هري دروازې څخه چي وغواړي دعاء ويونکی دي داخل سي.

## د آذان د جواب ورکولو طريقه

د آذان او اقامت کوم الفاظ چي مؤذن وايي هم هغه الفاظ به آذان اورېدونکی هم په جواب کښي ورسره وايي؛ البته پر ﴿حَيَّعَلَتَيْن﴾ يعني د ﴿حَيَّ عَلَى الصَّلوة او حَيَّ عَلَى الفَلاَحَ﴾ د ويلو پر وخت به دغه الفاظ وايي : ﴿ لاَحَوْلَ وَلاَقُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ﴾ (١)

د اقامت جواب ورکول هم د آذان په ډول دی، البته د ﴿قَدْقَامَتِ الصَّلٰوةُ﴾ په جواب کي به دغه الفاظ وايي: ﴿اَقَامَهَااللّٰهُ وَاَدَامَهَا﴾ (٢)

کوم کس چي د زړه د اخلاصه د آذان جواب په همدغه ډول ورکړي هغه به جنت ته داخليږي.( ٣)

(١) صحيح مسلم: کتاب الصلاة،٧- باب القول مثل قول المؤذن، (رقم الحديث: ٣٨٥).

(٢) سنن ابي داؤد: کتاب الصلاة،باب مايقول اذا سمع الاقامة، (رقم الحديث:٥٢٨).

(٣) صحيح مسلم: باب القول مثل قول المؤذن لمن سمعه، (رقم الحديث: ٣٨٥).

# د آذان څخه وروسته دعاء

﴿اَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، وَ أَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ، رَضِيتُ بِاللّٰهِ رَبًّا وَّبِمُحَمَّدٍ رَّسُوْلاً وَّبِالْإِسْلَامِ دِيْناً﴾ (١)

ژباړه: زه شاهدي ورکوم، چي د الله ﷻ څخه ماسېوا هيڅ معبود نسته، هغه يوازي دی، د هغه هيڅ شريک نسته او محمد ﷺ د الله تعالی بنده او د هغه رسول دی، زه راضي يم چي الله ﷻ مي رب دی او محمد ﷺ مي رسول دی او اسلام مي دين دی.

**فائده**: د دې دعاء په ويلو سره ټولي صغيره ګناوي معافيږي. (٢)

﴿اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ، وَالصَّلَاةِ الْقَائِمَةِ، آتِ مُحَمَّدَنِ الْوَسِيْلَةَ، وَالْفُضِيْلَةَ، وَابْعَثْهُ مَقَاماً مَّحْمُوْدَنِ الَّذِیْ وَعَدْتَّهُ﴾ (٣)

ژباړه: اې الله ﷻ د دې بشپړ دعوت او قايم لمانځه مالکه! محمد ﷺ ته وسيله اوفضيلت ورکړې او هغه محمود مقام ته ئې ورسوې کوم چي تا وعده ورسره فرمايلې ده.

---

(١) صحيح مسلم: کتاب الصلاة،٧- باب القول مثل قول المؤذن، (رقم الحديث: ٣٨٦).

(٢) صحيح مسلم: باب القول مثل قول المؤذن لمن سمعه، (رقم الحديث: ٣٨٦).

(٣) صحيح البخاري: کتاب الاذان،باب الدعاء عندالنداء، (رقم الحديث: ٦١٤).

په حديث شريف کښي راغلي دي، چي وسيله د جنت يو خاص مقام دی او هغه به يوازي يوه خاص بنده ته الله ﷻ ورکوي. رسول الله ﷺ فرمايي: زه اميد لرم، چي هغه خاص بنده به زه يم، تاسو هم زما لپاره د دغه خاص مقام دعاء کوئ، څوک چي زما لپاره د وسيلې دعاء غواړي هغه به خامخا زما د شفاعت مستحق کيږي. (١)

## د آذان او اقامت په مينځ کښي دعاء

﴿اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْئَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ وَالْمُعَافَاةَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ﴾ (٢)

ژباړه: اې الله ﷻ زه ستا څخه (د هري ګناه او خطا) بخښنه غواړم او د هر (تکليف او ناروغۍ) څخه صحت او عافيت غواړم او په دنيا او اخرت کښي (د هري بلا او عذاب څخه) د حفاظت غوښتنه کوم.

په حديث شريف کښي راغلي، چي د آذان او اقامت په مينځ کښي دعاء نه رديږي يعني ضرور قبليږي؛ نو سوال وسو چي موږ څه ووايو؟ وئې فرمايل: د الله تعالى څخه د دنيا او اخرت عافيت غواړئ.( ٣)

(١) صحيح مسلم: باب القول مثل قول المؤذن لمن سمعه، (رقم الحديث: ٣٨٤).

(٢) ابو داؤد: كتاب الصلاة باب ماجاء فى الدعاء بين الاذان والاقامة، لايرد الدعاء بين الاذان والاقامة.

(٣) سنن الترمذي: باب في العفو والعافية، (رقم الحديث: ٣٥٩٤).

## د لمانځه دعاوي

﴿سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، وَتَبَارَكَ اسْمُكَ، وَتَعَالىٰ جَدُّكَ، وَلَا إِلٰهَ غَيْرُكَ﴾ (۱)

ژباړه: اې الله ﷻ تا په پاکۍ سره یادوم او ستا پوره ستاینه کوم او ستا نوم مبارک دی او ستا شان او شوکت اوچت دی او بېله تا څخه بل د عبادت وړ (معبود) نسته.

## د رکوع دعاء

﴿سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ﴾ (۲)

ژباړه: زما لوی رب پاک دی. (درې واره)

نبي کریم ﷺ به دغه دعاء هم په رکوع کښې ډېره ویل:

﴿سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ رَبَّنَا، وَبِحَمْدِكَ، اللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ﴾ (۳)

ژباړه: اې زموږ ربه الله ﷻ! زه ستا پاکي بیانوم او ستا ستاینه کوم، اې الله ﷻ و ما ته بخښنه وکړې.

(۱) سنن الترمذي: كتاب الصلاة، باب مايقول عند افتتاح الصلاة، (رقم الحديث: ۲۴۲).

(۲) سنن الترمذي: كتاب الصلاة، ۱۹۴ - باب ماجاء في التسبيح في الركوع والسجود، (رقم الحديث: ۲۶۱).

(۳) صحيح البخاري: باب الدعاء في الركوع، (رقم الحديث: ۷۹۴).

## د رکوع څخه د پورته کېدلو دعاء

﴿سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ﴾ (۱)

ژباړه: الله جَلَّ جَلَالُهُ د هغه چا وینا واورېدل (قبوله ئې کړه) چا چي د هغه حمد او ثنا وویل.

﴿رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ﴾ (۲)

ژباړه: اې زموږ ربه جَلَّ جَلَالُهُ خاص تا لره ستاینه ده.

﴿رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ، حَمْداً كَثِيراً طَيِّباً مُّبَارَكاً فِيهِ﴾ (۳)

ژباړه: اې زموږ ربه! خاص تا لره ډېره زیاته، پاکه او مبارکه ستاینه ده.

☜یاد ولرئ، چي نوموړې دعاء په نفلي لمونځونو کښي ویل کيږي.

## د سجدې په وخت کښي دعاء

﴿سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَىٰ﴾ (۴)

ژباړه: زما لوړ رب جَلَّ جَلَالُهُ پاک دی. (درې واره)

نبي کریم ﷺ به دغه دعاء هم په رکوع کښي ډېره ویل:

---

(۱) صحیح البخاري: کتاب الصلاة، باب رفع الیدین في التکبیرة، (رقم الحدیث: ۷۳۵).

(۲) صحیح البخاري: کتاب الصلاة، باب رفع الیدین في التکبیرة، (رقم الحدیث:۷۳۵).

(۳) صحیح البخاري: کتاب الصلاة،باب فضل اللهم ربنالک الحمد، (رقم الحدیث: ۷۹۹).

(۴) سنن الترمذي: کتاب الصلاة،۱۹۴ - باب ماجاء في التسبیح في الرکوع والسجود، (رقم الحدیث: ۲۶۱).

﴿سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ رَبَّـنَا، وَبِحَمْدِكَ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ﴾ (١)

ژباړه: اې زموږ ربه الله جل جلاله! زه تا په پاکۍ سره يادوم او ستا پوره ستاينه كوم، اې الله جل جلاله ما ته بخښنه وكړې.

## د دوو سجدو په مينځ كې دعاء

﴿رَبِّ اغْفِرْلِيْ﴾ (٢)

ژباړه: اې زما ربه جل جلاله ما ته بخښنه وكړې.

☜ياد ولرئ، چې پورته دعاء په نفلي لمانځه كښي ويل كيږي.

﴿اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ وَارْحَمْنِيْ وَاهْدِنِيْ وَعَافِنِيْ وَارْزُقْنِيْ﴾ (٣)

ژباړه: اې الله جل جلاله ما ته بخښنه وكړې او پر ما رحم وكړې او هدايت راته وكړې او سلامتي را په برخه كړې او روزي راته راكړې.

## د درود شريف څخه وروسته تر سلام مخكې دعاء

﴿اَللّٰهُمَّ رَبَّـنَا اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ﴾ (٤)

---

(١) صحيح البخاري: باب الدعاء في الركوع، (رقم الحديث:٧٩٤)، صحيح مسلم: ٤٢- باب مايقال فى الركوع والسجود، (رقم الحديث:٢١٨).

(٢) الدارمي: كتاب الصلاة،باب القول بين السجدتين، (رقم الحديث:١٣٦٣).

(٣) سنن الترمذي: كتاب الصلاة، ٢١١-باب مايقول بين السجدتين، (رقم الحديث: ٢٨٤)،دترمذي په روايت كي څه زيادت سته.

(٤) صحيح مسلم: باب فضل الدعاء باللهم ربنا...، (رقم الحديث: ٢٦٩).

ژباړه: اې زموږ ربه ﷻ موږ ته په دنیا کښې نعمت راکړې او په اخرت کښې نعمت راکړې او د دوږخ له عذاب څخه مو وساتې.

## د سلام گرځولو څخه وروسته اذکار

﴿اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ﴾ (۱) (درې واره)

ژباړه: زه د الله ﷻ څخه بخښنه غواړم.

﴿ اَللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ، وَمِنْكَ السَّلَامُ، تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ﴾ (۲)

ژباړه: اې الله ﷻ ته له ټولو عیبونو څخه پاک یې او سلامتیا ستا له جانبه ده، برکت والا ذات یې، اې د لویي او عزت ورکولو څښتنه.

## د هر لمانځه څخه وروسته وظیفه

﴿اَللّٰهُمَّ أَعِنِّيْ عَلٰى ذِكْرِكَ، وَشُكْرِكَ، وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ﴾ (۳)

ژباړه: اې الله ﷻ ته زما مرسته وکړې، ستا په ذکر کولو او ستا په شکر کولو او ستا پر ښه عبادت کولو باندې.

---

(۱) صحیح مسلم: ۲۶- باب استحباب الذکر بعد الصلاة وبیان صفته، (رقم الحدیث: ۵۹۱).

(۲) صحیح مسلم: ۲۶- باب استحباب الذکر بعد الصلاة وبیان صفته، (رقم الحدیث: ۵۹۱).

(۳) سنن ابي داؤد: باب في الاستغفار، (رقم الحدیث: ۱۵۲۲).

حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه وايي، چي رسول الله ﷺ زما لاس ونيوى او وې فرمايل: زه ستا سره محبت کوم. ما ورته وويل: زه هم ستا سره محبت کوم؛ نو رسول الله ﷺ وفرمايل: که زما سره محبت کوې؛ نو د هر لمانځه وروسته نومورې وظيفه (دعاء) مه پرېږده.

## دعاء قنوت

﴿اَللّٰهُمَّ إِنَّا نَسْتَعِيْنُكَ وَ نَسْتَغْفِرُكَ وَنُؤْمِنُ بِكَ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْكَ وَنُثْنِيْ عَلَيْكَ الْخَيْرَ وَنَشْكُرُكَ وَلَا نَكْفُرُكَ وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَّفْجُرُكَ اَللّٰهُمَّ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَلَكَ نُصَلِّيْ وَنَسْجُدُ وَ اِلَيْكَ نَسْعٰى وَنَحْفِدُ وَنَرْجُوْ رَحْمَتَكَ وَنَخْشٰى عَذَابَكَ إِنَّ عَذَابَكَ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ﴾ (۱)

ژباړه: اې الله جل جلاله موږ ستا څخه مرسته غواړو او ستا څخه بخښنه غواړو او پر تا ايمان لرو او پر تا توکل کوو او ستا ډېره ښه ثناء او ستاينه کوو او ستا شکر اداء کوو او ستا ناشکري نه کوو او ليري کوو او پرېږدو هغه څوک، چي ستا نافرماني کوي، اې الله جل جلاله خاص ستا عبادت کوو او تا ته لمونځ کوو او سجده کوو او تا ته درځو او ستا د حکم پر عملي کولو تلوار

(۱) شرح معاني الاثار: (رقم الحديث: ۱۴۷۵)، مصنف ابن ابي شيبة: باب في قنوت الوتر من الدعاء، (رقم الحديث: ۶۸۹۳).

کوو او ستا د رحمت امید لرو او ستا د عذاب څخه بیریږو، یقیناً ستا عذاب کافرانو ته رسېدونکی دی.

## سهار او ماښام د لمانځه څخه وروسته وظیفه

﴿لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ، لَا شَرِيْكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ، وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ﴾ (۱)

ژباړه: بېله الله ﷻ څخه بل د عبادت وړ (معبود) نسته، هغه یو دی، شریک نه لري، هغه لره (د کائناتو) ټولواکي او پوره غوره ستاینه ده، هغه ژوند ورکوي او مرګ راولي او هغه پر هر څه قادر دی.

**فائده**: د پورته کلمې د لس واره ویلو دومره فضیلت دی، لکه یو څوک چي د اسماعیل ﷺ د اولادې څخه څلور مریان ازاد کړي. (۲)

﴿أَعُوْذُ بِاللهِ السَّمِيْعِ الْعَلِيْمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ﴾ (۳)

ژباړه: پناه غواړم په الله ﷻ سره چي ښه اورېدونکی او ښه علم لرونکی دی، د مردود شیطان (د وسوسو) څخه .

---

(۱) سنن الترمذي: کتاب الصلاة،۲۲۴-باب مایقول اذاسلم، (رقم الحدیث: ۲۹۹).

(۲) صحیح مسلم: باب فضل التهلیل والتسبیح والدعاء، (رقم الحدیث: ۲۶۹۳).

(۳) سنن الترمذي: ۲۲-باب، (رقم الحدیث: ۲۹۲۲).

(دا به درې واره وواياست، د دې څخه به وروسته د سورة الحشر اخري درې آياتونه يو ځل وواياست).

﴿هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ۖ هُوَ ٱلرَّحْمَٰنُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٢٢﴾ هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْمَلِكُ ٱلْقُدُّوسُ ٱلسَّلَٰمُ ٱلْمُؤْمِنُ ٱلْمُهَيْمِنُ ٱلْعَزِيزُ ٱلْجَبَّارُ ٱلْمُتَكَبِّرُ ۚ سُبْحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٢٣﴾ هُوَ ٱللَّهُ ٱلْخَٰلِقُ ٱلْبَارِئُ ٱلْمُصَوِّرُ ۖ لَهُ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ ۚ يُسَبِّحُ لَهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ﴾

څوک چې دغه پورتني اياتونه او ورسره (أَعُوذُ بِاللهِ السَّمِيْعِ الْعَلِيْمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ) سهار وو ايي؛ نو الله ﷻ (۷۰۰۰۰) او يا زره ملائكي مؤظف كړي، تر ماښام پوري به د ده لپاره د مغفرت دعاوي كوي، كه چيرې په همدغه ورځ مړ سو، د شهادت مرتبه به ترلاسه كوي او كه ئې ماښام وو ايي؛ نو تر سهاره به دغه سعادت ورته حاصل وي. (۱)

﴿رَضِيْتُ بِاللهِ رَبًّا وَّبِالْاِسْلَامِ دِيْنًا وَّبِمُحَمَّدٍ ﷺ نَّبِيًّا﴾ (۲)

(۱) سنن الترمذي: (رقم الحديث: ۲۹۲۲).

(۲) مسند احمد: حديث خادم النبي ﷺ، (رقم الحديث: ۱۸۹۶۷).

ژباړه: زه د الله ﷻ په رب والي او د اسلام په دين او د محمد ﷺ په نبوت باندي راضي يم.

رسول الله ﷺ وفرمايل: چي څوک سهار او ماښام دغه ذکر درې ځلي ووايي؛ نو الله ﷻ به خامخا دغه بنده د قيامت په ورځ خوشحاله کوي.

# د بيدېدلو سنت طريقه او دعاوي

طريقه: څوک چي د بيدېدلو اراده وکړي؛ نو اول بايد اودس وکړي، بستر دي درې واره وڅنډي، قبلې ته مخامخ دي پر راسته اړخ بيده سي او راسته لاس دي تر باړخو لاندي کښېږدي، چپه لاس دي پر ورانه کښېږدي او بيا دي لاندنۍ دعاء درې واره ووايي:

﴿اَللّٰهُمَّ قِنِيْ عَذَابَكَ، يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَكَ﴾ (١)

ژباړه: اې الله ﷻ ستا له عذابه څخه مي وساتې، په کومه ورځ چي ته خپل بندګان بيا ژوندي کوې.

﴿اَللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ أَمُوْتُ وَأَحْيَا﴾ (٢)

ژباړه: اې الله ﷻ ستا په نامه سره مړ کېږم او ژوندی کېږم.

---

(١) سنن ابي داؤد: باب ما يقال عند النوم، (رقم الحديث: ٥٠٤٥).

(٢) صحيح مسلم: ١٧ـ باب ما يقول عندالنوم و اخذالمضجع، (رقم الحديث: ٢٧١١).

﴿بِاسْمِكَ رَبِّي وَضَعْتُ جَنْبِيْ وَبِكَ اَرْفَعُهُ اِنْ اَمْسَكْتَ نَفْسِيْ فَارْحَمْهَا، وَاِنْ اَرْسَلْتَهَا فَاحْفَظْهَا بِمَا تَحْفَظُ بِهِ عِبَادَكَ الصَّالِحِيْنَ ﴾ (١)

ژباړه: زما ربه! ستا په نامه سره مي خپل اړخ ولګوی او ستا په مرسته ئې بیرته راپورته کوم، که دي زما روح واخیست؛ نو رحم پر وکړه او که دي بیرته راولېږه (ژوندی دي راویښ کړم) نوساتنه ئې وکړه، په هغه څه سره چې د خپلو نیکو بندهګانو ساتنه په کوې.

## د بیدېدلو په وخت کي ویل کېدونکي سورتونه

📖 سورة الملک: ﴿تَبَارَكَ الَّذِيْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ...﴾ ویل.(٢)

رسول الله ﷺ وفرمایل: په قران عظیم الشان کښي یو سورت دی، چي دېرش ایتونه لري، دغه سورت د خپل ویونکي شفاعت کوي؛ تر دې چي هغه ته به بخښنه وسي او هغه تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ سورت دی.

رسول الله ﷺ وفرمایل: ﴿هِيَ الْمَانِعَةُ هِيَ الْمُنْجِيَةُ﴾ یعني دا سورت د قبر د عذاب څخه منع کوونکی او خلاصوونکی دی.

حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمایلي دي: څوک چي د (تبارک الذي) سورت هره شپه وایي، دی به د قبر د فتنې څخه وساتل سي او هر څوک چي

---

(١) صحیح البخاري: باب التعوذ والقراءة عند المنام، (رقم الحدیث: ٦٣٢٠).

(٢) سنن الترمذي: باب ما جاء في فضل سورة الملک، (رقم الحدیث: ٢٨٩٢).

همېشه راتلونکی ایت تلاوت کوي، الله پاک به پرده باندي د نکیر او منکر سوال اسانه کړي (۱)، ایت دا دی:

﴿ إِنِّيٓ ءَامَنتُ بِرَبِّكُمۡ فَٱسۡمَعُونِ ﴾ (سورة يس)

رسول الله ﷺ به تر هغه وخته پوري نه بیدېدی؛ ترڅو چي به ئې سورة الملک نه وو تلاوت کړی.

📖 کله چي تاسو بیدېږی؛ نو بسم الله الرحمن الرحیم و واياست. (۲)

د هغه څخه وروسته سورة الاخلاص ﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ﴾ سورة الفلق ﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ﴾ او سورة الناس ﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ﴾ و واياست او پر دواړو لاسونو ئې چُف کړئ او په دواړو لاسونو سره خپل بدن مسه کړئ، د سرڅخه ئې شروع کړئ بیا مخ او بیا نور بدن، البته درې واره. د جسماني او روحاني ټولو شرونو څخه به ئې حفاظت وسي.

📖 د سورة البقرې اولني څلور ایتونه ویل.

📖 ایت الکرسي او ورپسې دوه ایتونه ویل.(۳)

## دبیدېدلو په وخت کښي استغفار ویل

(۱) شرح الصدور بشرح حال الموتي والقبورللسیوطي: فصل فیه فوائد، فائده نمبر-۱۴.

(۲) صحیح البخاري: باب فضل المعوذات، (رقم الحدیث:۵۰۱۷).

(۳) صحیح البخاري: باب فضل سورة البقرة، (رقم الحدیث:۵۰۰۹-۵۰۱۰).

﴿اَسْتَغْفِرُ اللهَ الَّذِىْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْحَىُّ الْقَيُّوْمُ وَ أَتُوْبُ اِلَيْهِ﴾ (١)

ژباړه: زه د الله تعالی څخه بخښنه غواړم، چي بېله هغه څخه بل د عبادت وړ (معبود) نسته، هغه ژوندی دی (د کا ئناتو) تدبیر کونکی دی او زه هغه ته توبه باسم.

رسول الله ﷺ وفرمایل: کوم څوک چي ماښام بیدیږي او دريٍ ځلي دغه کلمات و وايي؛ نو الله ﷻ به د ده ګناهونه وبخښي، که څه هم ګناهونه ئې د درياب د ځګ برابر وي یا د عالج (د علاقې) د ریګو د ذرو برابر وي، یا د درختو د پاڼو د تعداد په اندازه وي، یا د دنیا د ورځو د تعداد په اندازه وي.

## تسبیحات فاطمي

څوک چي د خوب ځای ته د راتګ په وخت کښي دا اذکار و وايي؛ نوده لره دغه کلمې تر خادم لرلو ډېري زیاتي بهتره دي. دا تسبیحات نبي ﷺ خپلي ګراني لور فاطمې رضي الله عنها ته ښوولي وه:

﴿سُبْحَانَ اللهِ﴾ (درو دېرش واره)

﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ (درودېرش واره)

﴿اَللهُ اَكْبَرُ﴾ (څلور دېرش واره) (٢)

---

(١) سنن الترمذي: كتاب الدعوات، ١٧- باب، (رقم الحديث: ٣٣٩٧).

(٢) صحيح البخاري: باب التكبير والتسبيح عندالمنام، (رقم الحديث: ٦٣١٨).

**فائده:** د دغه تسبیحاتو په ویلو سره زر (۱۰۰۰) نېکۍ لیکل کیږي او د ټولې ورځې سترېا په لیرې کیږي.

## د سهار دعاء

﴿أَصْبَحْنَا وَأَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ، اَللّٰهُمَّ إِنِّـىْ اَسْأَلُكَ خَيْرَ هٰذَا الْيَوْمِ، فَتْحَهُ، وَنَصْرَهُ، وَنُوْرَهُ، وَبَرَكَتَهُ، وَهُدَاهُ، وَ أَعُوْذُ بِكَ، مِنْ شَرِّ مَا فِيْهِ، وَشَرِّ مَا بَعْدَهُ﴾ (۱)

ژباړه: موږ سهار کړی او کائناتو هم الله لره سهار کړی، چې د ټولو مخلوقاتو رب دی، اې الله ﷻ زه در څخه د دې ورځې د خېر، کامیابي، نصرت، رڼایي، برکت او هدایت سوال کوم او په تا سره د دې ورځې له شره او تر هغې وروسته شر څخه پناه غواړم.

## د ماښام دعاء

﴿أَمْسَيْنَا وَأَمْسَى الْمُلْـكُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ، اَللّٰهُمَّ إِنِّـىْ اَسْأَلُكَ خَيْرَ هٰذِهِ اللَّيْلَةِ، فَتْحَهَا، وَنَصْرَهَا، وَنُوْرَهَا، وَبَرَكَتَهَا وَهُدَاهَا، وَ أَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا فِيْهَا، وَشَرِّ مَا بَعْدَهَا﴾ (۲)

---

(۱) سنن ابي داؤد: باب مایقول اذا اصبح، (رقم الحدیث: ۵۰۸۴).

(۲) سنن ابي داؤد: باب مایقول اذا اصبح، (رقم الحدیث: ۵۰۸۴).

﴿بِسۡمِ اللّٰهِ الَّذِیۡ لَا یَضُرُّ مَعَ اسۡمِهٖ شَیۡءٌ فِی الۡاَرۡضِ وَ لَا فِی السَّمَآءِ وَهُوَ السَّمِیۡعُ الۡعَلِیۡمُ﴾ (۱)

ژباړه: د هغه الله تعالی په نامه سره پناه غواړم، چي له نامه سره ئې هیڅ شی په ځمکه او آسمان کي ضرر نه رسوي او هغه ښه اوریدونکی، ښه علم لرونکی دی.

رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي سهار او ماښام دغه کلمې دري ځلې ووایي، هیڅ شی به ورته ضرر و نه رسوي.

## د خوب څخه د پورته کېدلو دعاء

﴿اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِیۡ أَحۡیَانَا بَعۡدَ مَا أَمَاتَنَا وَ إِلَیۡهِ النُّشُوۡرُ﴾ (۲)

ژباړه: ټوله غوره ستاینه هغه الله لره ده، چي موږ ته ئې ژوند راکړ، وروسته تردې چي موږ ئې مړه کړي وو او هغه لره ورتلل دي.

## د ډوډۍ خوړلو څخه مخکي دعاء

﴿بِسۡمِ اللّٰهِ﴾ یا ﴿بِسۡمِ اللّٰهِ وَبَرَکَةِ اللّٰهِ﴾ (۳)

---

(۱) سنن الترمذي:۱۳- باب ماجاء في الدعاء اذا اصبح و اذا امسي، (رقم الحديث:۳۳۸۸).

(۲) صحيح البخاري: باب مايقول اذا نام، (رقم الحديث: ۶۳۱۲)، وفي صحيح مسلم:باب مايقول عندالنوم واخذ المضجع، (رقم الحديث: ۲۷۱۱).

(۳) المستدرک علي الصحيحين:كتاب الاطعمة، (رقم الحديث:۷۰۸۴).

او که د خوراک په پیل کښې ﴿بِسْمِ اللهِ﴾ ور څخه هېره سوه؛ نو داسې دي ووايي: ﴿بِسْمِ اللهِ اَوَّلَهُ وَآخِرَهُ﴾ (۱)

ژباړه: په پیل او پای کښې د الله ﷻ په نامه سره خوراک کوم.

## د ډوډۍ خوړلو څخه وروسته دعاء

﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ أَطْعَمَنِيْ، هَذَا الطَّعَامَ، وَرَزَقَنِيْهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِّنِّيْ وَلَاقُوَّةٍ﴾ (۲)

ژباړه: ټوله غوره ستاینه هغه الله لره ده، چې په ما ئې دا خواړه وخوړل او زما د کوم توان او طاقت پرته ئې ماته راکړه.

﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مُسْلِمِيْنَ﴾ (۳)

ژباړه: ټول ثناء او صفتونه هغه الله لره دي، چا چې خواړه راکړه او اوبه ئې راکړې او موږ ئې مسلمانان جوړ کړو.

الله ﷻ د هغه بنده څخه راضي کیږي، چې خوراک او چیښاک وکړي؛ نو د الله تعالی حمد ووايي. د خوراک څخه وروسته شکر کوونکی داسې دی، لکه صبر کوونکی روژاتي.

---

(۱) سنن ابي داؤد: باب التسمية على الطعام، (رقم الحديث: ۳۷۶۷).

(۲) سنن الترمذي: ۵۶-باب مايقول اذا فرغ من الطعام، (رقم الحديث: ۳۴۵۷)،البته په روایت کې د هذا سره (الطعام) نه دی ذکر، سنن ابي داؤد: كتاب اللباس، (رقم الحديث: ۴۰۲۳).

(۳) سنن الترمذي: ۵۶ - باب مايقول اذا فرغ من الطعام، (رقم الحديث: ۳۴۵۸).

## د سترخوان د پورته کېدلو پر وخت دعاء

﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْداً كَثِيْراً طَيِّباً مُّبَارَكاً فِيْهِ، غَيْرَ مَكْفِيٍّ وَّلَامُوَدَّعٍ وَّلَامُسْتَغْنىً عَنْهُ رَبَّنَا﴾ (١)

ژباړه: ټوله غوره، ډېره زياته، پاکه او با برکته ستاينه الله تعالى لره ده، نه پوره کېدونکې اونه پرېښېدونکی اوله هغه څخه نه مستغني کېدونکې ستاينه اې زموږ ربه!

## د مېلمه دعاء و کوربه ته

﴿اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِيْمَا رَزَقْتَهُمْ، وَاغْفِرْلَهُمْ، وَارْحَمْهُمْ﴾ (٢)

ژباړه: اې الله ﷻ تا چې دوی ته څه ورکړي، په هغه کښې برکت واچوې او هغوی ته بخښنه وکړې او پر ورحمېږې.

## د شيدو چيښلو څخه وروسته دعاء

﴿اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيْهِ وَزِدْنَا مِنْهُ﴾ (٣)

ژباړه: اې الله ﷻ زموږ لپاره په دغه شيدو کښې برکت راکړې او زياتي راکړې.

---

(١) سنن الترمذي: ٥٦- باب مايقول اذا فرغ من الطعام، (رقم الحديث: ٣٤٥٦).

(٢) صحيح مسلم: ٢٢- باب استحباب دعاءالضيف لاهل الطعام، (رقم الحديث: ٢٠٤٢).

(٣) سنن ابى داؤد: باب مايقول اذاشرب اللبن، (رقم الحديث: ٣٧٣).

# د استغفار کلمې

په هر لفظ سره چې د الله ﷻ څخه د ګناهونو د بخښنې طلب وسي هغه ټول استغفار بلل کيږي؛ مګر په هغو الفاظو سره، چې په حديث شريف کښې راغلي دي، استغفار غوښتل ډېر زيات بهتره دي؛ ځکه هم هغه الفاظ د جناب رسول الله ﷺ د مبارکي خولې څخه راوتلي دي:

﴿رَبِّ اغْفِرْلِيْ وَتُبْ عَلَيَّ إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الْغَفُوْرُ﴾

حضرت ابن عمر رضي الله عنه وفرمايل، چې رسول الله ﷺ به په هر مجلس کښې سل واري دغه کلمات ويل. (١)

حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ ارشاد وفرمايه: کوم څوک چې درې ځلې دغه کلمې و وايي:

﴿اَسْتَغْفِرُ اللهَ الْعَظِيْمَ الَّذِيْ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ وَأَتُوْبُ اِلَيْهِ﴾

نو د ده ګناه بخښل کيږي، که څه هم د جهاد د ميدان څخه تښتېدلی وي. (٢)

# سيد الاستغفار

(سهار او ماښام)

---

(١) سنن الترمذي: ٣٩- باب مايقول اذا قام من مجلسه، (رقم الحديث: ٣٤٣٤)، سنن ابي داؤد: باب في الاستغفار، (رقم الحديث: ١٥١٦).

(٢) المستدرک: کتاب الدعاء والتکبيروالتهليل والتسبيح والذکر، (رقم الحديث: ١٨٨٤).

﴿اَللّٰهُمَّ أَنْتَ رَبِّيْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اَنْتَ خَلَقْتَنِيْ، وَأَنَا عَبْدُكَ، وَ أَنَا عَلٰى عَهْدِكَ وَ وَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَعُوْذُبِكَ مِنْ شَرِّ مَاصَنَعْتُ، أَبُوْءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ، وَأَبُوْءُ بِذَنْبِيْ، فَاغْفِرْ لِيْ، فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ إِلَّا اَنْتَ﴾

ژباړه: اې الله ﷻ! ته زما پالونکی یې، بېله تا څخه بل د عبادت وړ (معبود) نسته، تا زه پیدا کړی یم او زه دي بنده یم او زه د خپل توان سره ستا پر عهد او وعده ولاړ یم، زه په تا سره د خپلو کړو له شر څخه پناه غواړم، زه ستا په هغه نعمت اقرار کوم، چې ماته دي راکړی او په خپله ګناه اقرار کوم؛ نو ماته بخښنه وکړې، یقیناً بېله تا څخه څوک ګناه نسي بخښلای.

**فائده:** رسول الله ﷺ وفرمایل چې کوم بنده په اخلاص او د زړه په یقین سره، د ورځې په یوه برخه کښې، دغه (د استغفار) کلمات و وایي او بیا په هم هغه ورځ د ماښام کېدو تر مخه مړ سي؛ نو جنت ته به داخل سي او څوک چې دغه کلمات د ماښام په یوه حصه کې په اخلاص او د زړه په یقین سره و وایي او په هم هغه شپه د سهار کېدو تر مخه مړ سي؛ نو په یقین سره به جنت ته داخل سي. (١)

(١) صحیح البخاري: باب افضل الاستغفار، (رقم الحدیث: ٦٣٠٦).

# د توحید د کلمې فضیلت

رسول الله ﷺ وفرمایل: که چیري اووه آسمانونه او اووه مځکي په یوه پله کښې وي او ﴿لَا إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ﴾ په بله پله کښې وي، د ﴿لَا إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ﴾ پله پر درنیږي.( ١)

رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي د ورځي په اوله برخه او دورځي په اخره برخه کښې سل ځلي ﴿لَا إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ﴾ ووایي؛ نو دغه ویونکی به د هغه شخص په مثل وي چا چي د اسماعیل ﷺ د اولادونو څخه سل مریان ازاد کړي وي.( ٢)

په یو بل حدیث شریف کښې فرمایي:

﴿إِنَّ أَفْضَلَ الدُّعَاءِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ، وَأَفْضَلَ الذِّكْرِ لَا إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ﴾ (٣)

ژباړه: په رښتیا سره چي بهترینه دعاء اَلحَمْدُلِلّٰهِ ده او بهترین ذکرلاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ دی.

---

(١) المعجم الكبيرللطبراني: (رقم الحديث: ١٤٥٢٣).

(٢) سنن الترمذي: باب ماجاء فيمن يموت وهو يشهد، (رقم الحديث: ٢٦٣٩).

(٣) سنن الترمذي: ٩ - باب ماجاء ان دعوة المسلم مستجابة، (رقم الحديث: ٣٣٨٣).

# صلوة الحاجة

رسـول الله ﷺ وفرمايـل: دكـوم بنـده چـي د الله ﷻ وطرفتـه يـا د يـو بنـده وطرفته څه حاجت وي؛ نو (د سنت موافق) دي اودس تـازه کړي، بيا دي دوه رکعتـه لمونځ وکړي، د الله ﷻ تعريف دي بيان کړي او پـر رسـول الله ﷺ دي درود ووايي او بيا دي د الله ﷻ څخه دا دعاء وغواړي:

﴿لاَ إِلٰهَ إِلاَّ اللهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحَانَ اللهِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ اَلْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ أَسْئَلُـكَ مُوْجِبَاتِ رَحْمَتِكَ وَعَزَائِمَ مَغْفِرَتِكَ، وَالْغَنِيْمَةَ مِنْ كُلِّ بِرٍّ وَّالسَّلَامَةَ مِن كُلِّ اِثْمٍ، لاَتَدَعْ لِيْ ذَنباًاِلَّا غَفَرْتَهُ، وَلَا هَمّاًاِلَّا فَرَّجْتَهُ، وَلَا حَاجَةً هِيَ لَـكَ رِضًا إِلَّا قَضَيْتَهَا يَاأَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ﴾ (١)

ژباړه: د الله ﷻ څخه پرته بل هيڅوک د عبادت وړ (معبود) نسته، زغمونکی، مهربانه ذات دی، پاکي دي وي الله تعالی لره، چي د ستر عرش خاوند دی او ټوله ثناء او صفتونه خاص الله لره دي، چي د ټولو عالمونو پالونکی دی، اې الله ﷻ زه ستا څخه ستا د رحمت د واجبوونکو شيانو او د هغو شيانو غوښتنه کوم، چي ستا بخښنه ضروري کوي او د هر نېک کار د نعمت غوښتنه کوم او د هري ګناه څخه د حفاظت غوښتنه کوم، زما يوه ګناه

---

(١) سنن الترمذي: باب ماجاء في صلاة الحاجة، (رقم الحديث: ٤٧٩).

هم ببله بخښني مه را پرېږده او زما يو غم او فکر هم ببله حل کېدلو مه راپرېږده او هغه حاجت ببله پوره کولو مه را پرېږده چي ستا په هغه کښي رضاوي، اې په رحم کوونکو کي تر ټولو زيات رحم کوونکې (الله).

## د استخارې د لمانځه دعاء

رسول الله وفرمايل: کله چي ستاسو څخه يو څوک دکوم کار دکولو اراده وکړي؛ نو دوه رکعته نفل لمونځ دي وکړي او بيا دي دا دعاء ووايي:

﴿اَللّٰهُمَّ إِنِّیْ اَسْتَخِيْرُكَ بِعِلْمِكَ، وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ، وَ أَسْئَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِيْمِ فَاِنَّكَ تَقْدِرُ وَلَا اَقْدِرُ، وَتَعْلَمُ وَلَا اَعْلَمُ وَأَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ، اَللّٰهُمَّ اِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هٰذَا الْاَمْرَ خَيْرٌ لِّیْ فِیْ دِيْنِیْ، وَمَعَاشِیْ، وَعَاقِبَةِ اَمْرِیْ، اَوْ عَاجِلِ اَمْرِیْ، وَآجِلِهٖ، فَاقْدُرْهُ لِیْ، وَيَسِّرْهُ لِیْ، ثُمَّ بَارِكْ لِیْ فِيْهِ،
وَاِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ اَنَّ هٰذَا الْاَمْرَ شَرٌّ لِّیْ، فِیْ دِيْنِیْ، وَمَعَاشِیْ، وَعَاقِبَةِ اَمْرِیْ، اَوْ عَاجِلِ اَمْرِیْ، وَآجِلِهٖ، فَاصْرِفْهُ عَنِّیْ، وَاصْرِفْنِیْ عَنْهُ، وَاقْدُرْ لِیَ الْخَيْرَ، حَيْثُ كَانَ ثُمَّ اَرْضِنِیْ بِهٖ﴾ (١)

ژباړه: اې الله ﷻ زه ستا په پوهه له تا څخه خير غواړم او ستا په قدرت سره له تا څخه توان غواړم او ستا د لوی فضل غوښتنه کوم؛ ځکه ته پر هر څه

---

(١) صحيح البخاري: باب ماجاء في التطوع مثني مثني، (رقم الحديث: ١١٧).

قدرت لرې او زه هيڅ توان نه لرم او ته په هر څه پوهېږې او زه په هيڅ نه پوهېږم او ته په غيبو(هم) ښه علم لرې، اې الله ﷻ که ته پوهېږې چې داکار (دلته به د خپل کار نوم اخلي يا به ئې خيال په زړه کې ورګرځوي) زما لپاره زما په دين او دنيا کښې او زما دکار په پايله کښې خير وي، يا دي داسي و وايي (که چيري دغه کار) زما په نږدې او ليري راتلونکي کښې راته خير وي، نو ته ئې زما په برخه کړې او راته اسانه ئې کړې اوبيا په هغه کښې برکت راته واچوې او که ته پوهېږې، چې داکار(دکار نوم به واخلي يا به ئې په زړه کي راوګرځوي) زما لپاره زما په دين او دنيا کښې او زما دکار په اخر کښې شر وي، يا دي داسي و وايي (که چيري دغه کار) زما په نږدې او ليري راتلونکي کي شر وي؛ نو له ما څخه ئې وګرځوې او ما د هغه څخه وساتې او ما ته خير راپه برخه کړې هر چيرته چي وي، بيا ما په هغه سره خوشحاله کړې.

## د درود شريف فائدې

(۱) رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله ﷻ ځيني ملکي دي، چي په دنيا کښي ګرځي او زما د امتيانو سلام او درود ماته رارسوي. (۱)

(۲) رسول الله ﷺ وفرمايل: ز ما د امت څخه چي کوم اُمتي د زړه د اخلاص څخه پر ما باندي درود شريف و وايي؛ نو الله تعالى پر هغه باندي (۱۰) لس

(۱) سنن النسائي: باب السلام علي النبيﷺ، (رقم الحديث: ۱۲۸۲).

رحمتونه نازلوي او (۱۰) لس ګناهونه ئې وربخښي، (۱۰) لس درجې ئې لوړوي او د ده په حساب کښې (۱۰) لس نېکياني ليکي.(۱)

(۳) رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ ما ته ډېر نژدې کېدونکی او زما د شفاعت ډېر مستحق زما هغه اُمتي دی، چې پر ما باندې ډېر درود ويونکی وي.(۲)

**يادونه:** هر مسلمان بايد سهار او ما ښام لږ تر لږه سل واره پر نبي کريم ﷺ باندې درود شريف ووايي.

## د بخښنې او د دوږخ څخه د خلاصون دعاء

﴿رَبَّنَآ إِنَّنَآ ءَامَنَّا فَٱغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَا وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ﴾

(ال عمران: ۱۶)

ژباړه: اې زموږ ربه! موږ يقيناً ايمان را وړی دی؛ نو ته زموږ ګناهونه را وبخښې او موږ د دوږخ د عذاب څخه وساتې.

(۱) سنن النسائي: باب الفضل في الصلاة علي النبيﷺ ، (رقم الحديث:۱۲۹۷)، سنن الترمذي: باب ما جاء في فضل الصلوة على النبيﷺ ، (رقم الحديث:۳۶۱۴).

(۲) سنن الترمذي: باب في الصلوة على النبيﷺ ،(رقم الحديث: ۴۸۴)، مرقات: باب الصلوة على النبيﷺ -اى احقهم بشفاعتي، (رقم الحديث:۹۲۳).

## د نورو مسلمانانو لپاره د بخښنې دعاء

﴿ يَغْفِرُ ٱللَّهُ لَكُمْ ۖ وَهُوَ أَرْحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ ﴾ (یوسف: ۹۲)

ژباړه: الله ﷻ دې تاسو ته بخښنه وکړي او هغه تر ټولو مهربانې کوونکو زیات مهربانه دی.

**یادونه:** دغه دعاء سیدنا یوسف ﷺ د خپلو ورونړو لپاره کړې وه.

## د مور او پلار لپاره د رحمت دعاء

﴿ رَّبِّ ٱرْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرًا ﴾ (بنی اسرائیل: ۲۴)

ژباړه: اې زما ربه ﷻ! پر دوی دواړو رحم وکړې؛ لکه څنګه چې ئې ما ته په کوچنیوالي کښې تربیه راکړې ده.

## دښمن ته د ښرا کولو دعاء

﴿اَللّٰهُمَّ مُنْزِلَ الْكِتَابِ، سَرِيْعَ الْحِسَابِ، اهْزِمِ الْاَحْزَابَ، اَللّٰهُمَّ اهْزِمْهُمْ، وَزَلْزِلْهُمْ﴾ (۱)

ژباړه: اې د کتاب نازلونکې الله ﷻ! اې ژر حساب کونکې، د دښمنانو ډلو ته ماته ورکړې، اې الله ﷻ! ته ماته ورکړې او مځکه ئې تر پښو لاندې ولړزوې.

---

(۱) صحیح مسلم: ۷- باب استحباب الدعاء بالنصر عند لقاء العدو، (رقم الحدیث: ۱۷۴۲).

## د علم د زياتېدو دعاء

﴿رَبِّ زِدۡنِي عِلۡمٗا ﴾ (طه:١١۴)

ژباړه: اې زما ربه ﷻ! زما علم را زيات کړې.

## د سينې د خلاصېدو او د کار د اسانه کېدو دعاء

﴿ رَبِّ ٱشۡرَحۡ لِي صَدۡرِي ٢٥ وَيَسِّرۡ لِيٓ أَمۡرِي ٢٦ وَٱحۡلُلۡ عُقۡدَةٗ مِّن لِّسَانِي ٢٧ يَفۡقَهُواْ قَوۡلِي ٢٨﴾ (سورة طه)

ژباړه: اې زما ربه! زما لپاره زما سينه را خلاصه کړې او زما لپاره زما کار اسانه کړې او زما د ژبې غوټه را خلاصه کړې، چې خلک زما په خبره پوه سي.

## د هر مصيبت څخه د خلاصون دعاء

﴿لَّآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنتَ سُبۡحَٰنَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾(انبياء: ٨٧)

ژباړه: ببله تا څخه بل د عبادت وړ (معبود) نسته، ته پاک يې، يقيناً زه د خطاکوونکو څخه يم.

## د کور څخه د وتلو دعاء

﴿ بِسْمِ اللهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِا للهِ ﴾ (۱)

ژباړه: د الله په نامه سره (د کور څخه وځم) په الله ﷻ باندي توکل کوم او نسته هیڅ قوت (د ګناه څخه د ساتلو) او هیڅ طاقت (د نېکیو پر کولو)؛ مګر د الله په توفیق سره.

## کور ته د ننوتلو دعاء

﴿اَللّٰهُمَّ إِنِّىٓ أَسْئَلُـكَ خَيْرَ الْمَوْلِجِ وَخَيْرَ الْمَخْرَجِ، بِسْمِ اللهِ وَلَجْنَا، وَبِسْمِ اللهِ خَرَجْنَا، وَعَلَى اللهِ رَبِّـنَا، تَوَكَّلْنَا﴾ (۲)

ژباړه: اې الله ﷻ! زه ستا څخه سوال کوم (کور ته) د ښه ننوتلو او (د کور څخه) د ښه وتلو، د الله تعالی په نامه سره ننوتلو او د الله تعالی په نامه سره ووتلو او پر خپل رب الله ﷻ مو توکل او تکیه کړې ده.

## بازار ته د ننوتلو دعاء

﴿لَاإِلٰهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ، لَا شَرِيْكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْـكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، يُحْيِ وَيُمِيْتُ، وَهُوَ حَيٌّ لَّا يَمُوْتُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ﴾ (۳)

---

(۱) سنن ابي داؤد: باب مايقول اذا خرج من بيته، (رقم الحديث:۵۰۹۵).

(۲) سنن ابي داؤد: باب ما يقول الرجل اذا دخل بيته، (رقم الحديث: ۵۰۹۶).

(۳) سنن الترمذي: ۳۶- باب ما يقول اذا دخل السوق، (رقم الحديث:۳۴۲۸)، سنن ابن ماجه: ۴۰- باب الأسواق ودخولها، (رقم الحديث:۲۲۳۵).

ژباړه: بېله الله تعالی څخه بل د عبادت وړ (معبود) نسته، هغه یو دی، شریک نلري، هغه لره پاچاهي او پوره غوره ستاینه ده، هغه ژوند ورکوي او مرګ راولي او هغه (همېشه) ژوندی دئ، مرګ نلري او خېر دده په لاس کي دی او هغه پر هر څه قادر دی.

رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي دا کلمې په بازار کښي ووايي؛ نو الله تعالی د ده لپاره لس لکه نېکياني ليکي او لس لکه ګناهونه ئې وربخښي او لس لکه درجې ئې ور پورته کوي او د ده لپاره په جنت کښي يو کور جوړوي. (١)

## د مريضي څخه د شفاء غوښتلو دعاء

﴿(رَبِّ )أَنِّي مَسَّنِيَ ٱلضُّرُّ وَأَنتَ أَرۡحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ﴾(انبياء:٨٣)

ژباړه: اې زما ربه! يقيناً ما ته تکليف را رسېدلی دی او ته تر ټولو مهرباني کوونکو زيات مهربانه يې.

دا پور تنۍ دعاء د حضرت ايوب عليه السلام دعاء ده، چي هغه د ډيري مريضۍ په وخت کښي کړې وه؛ نو الله پاک د ده همدا دعاء قبوله کړه او ښه صحت او عافيت ئې ور کړی.

---

(١) سنن الترمذي: ٣٦- باب مايقول اذا دخل السوق، (رقم الحديث: ٣٤٢٨)، سنن ابن ماجه: ٤٠- باب الاسواق ودخولها، (رقم الحديث: ٢٢٣٥).

## د شیطانانو څخه د محفوظ کېدو دعاء

﴿رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ هَمَزَٰتِ ٱلشَّيَٰطِينِ ۝٩٧ وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَن يَحْضُرُونِ ﴾ (المومنون:۹۸)

ژباړه: اې زما ربه! زه په تا سره پناه غواړم د شیطانانو د وسوسو څخه او زما ربه، زه په تا سره پناه غواړم ما ته د دوی د راتګ څخه.

## د هر خیر د طلب کولو دعاء

﴿ رَبِّ إِنِّي لِمَآ أَنزَلْتَ إِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيرٌ ﴾(قصص:۲۴)

ژباړه: اې زما ربه! کوم خیر چي ته ماته راکوې، زه د هغه محتاج یم.

## د دښمنانو څخه د انتقام اخیستلو دعاء

﴿ (رَبِّ) أَنِّي مَغْلُوبٌ فَٱنتَصِرْ ﴾ (قمر:۱۰)

ژباړه: اې زما ربه! یقیناً زه مغلوبه یم، ته (په انتقام اخیستلو کښې) زما مرسته وکړه.

## د ظالمانو څخه د نجات حاصلولو دعاء

﴿ (رَبِّ) نَجِّنِي مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾(تحریم:۱۱)

ژباړه: اې زما ربه! ما ته د ظالم قوم څخه نجات راکړې.

## د سودا په وخت کښي د نقصان څخه د ساتني دعاء

﴿بِسْمِ اللهِ، اَللّٰهُمَّ إِنِّیْ أَسْئَلُكَ خَيْرَ هٰذِهِ السُّوْقِ، وَخَيْرَ مَا فِيْهَا، وَأَعُوْذُبِكَ مِنْ شَرِّهَا، وَشَرِّ مَا فِيْهَا، اَللّٰهُمَّ إِنِّیْ أَعُوْذُبِكَ، أَنْ أُصِيْبَ فِيْهَا يَمِيْنًا فَاجِرَةً أَوْ صَفْقَةً خَاسِرَةً﴾ (١)

ژباړه: د الله تعالی په نامه سره، اې الله! زه ستا څخه د دغه بازار خير غواړم او څه شيان چي په دغه بازار کښي دي، د هغو خير غواړم او زه ستا څخه پناه غواړم د دغه بازار د شر څخه او څه شيان چي په دغه بازار کښي دي، د هغو د شر څخه ستا پناه غواړم، اې الله تعالی! زه ستا پناه غواړم د دروغو قسم خوړلو څخه يا د تاواني سوداکولو څخه.

## د کالو اغوستلو دعاء

﴿ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ كَسَانِیْ هٰذَا، وَرَزَقَنِيْهِ، مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِّنِّیْ وَلَا قُوَّةٍ﴾

ژباړه: ټوله غوره ستاينه ده هغه الله لره، چي ما ته ئې دا جامه راواغوستله او زما دطاقت او قوت کارولو پرته ئې ماته راکړه.

---

(١) المستدرک للحاکم: (رقم الحديث: ١٩٧٧).

رسول الله ﷺ فرمايي: څوک چي د کالو اغوستلو پر وخت دا دعاء و وايي؛ نو د ده مخکني او وروستني ګناهونه بخښل کيږي.(١)

## د نوي کالو اغوستلو دعاء

﴿اَللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ، أَنْتَ كَسَوْتَنِيهِ، أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِهِ، وَخَيْرِ مَا صُنِعَ لَهُ، وَأَعُوذُبِكَ مِنْ شَرِّهِ، وَشَرِّ مَا صُنِعَ لَهُ﴾ (٢)

ژباړه:اې الله ﷻ! ټوله غوره ستاينه تا لره ده، تا ما ته (دا جامه) را واغوستله، زه د دې د خير او د څه لپاره چي دا جوړه سوې ده، د هغه د خير سوال کوم او پناه غواړم په تا سره د دې (جامې) له شر څخه او د هغه څه له شره څخه د کوم لپاره چي دا جوړه سوې ده.

## څوک چي نوي جامې واغوندي هغه لره دعاء

صحابه کرامو ﵃ چي به د يو چا نوي جامې ولېدلې؛ نو دا دعاء به ئې ورته کول:

﴿ تُبْلِيْ وَيُخْلِفُ اللّٰهُ﴾ (٣)

ژباړه: دا جامه زړه کړې او الله دې د دې پر ځای نوري جامې درکړي.

(١) سنن ابي داؤد: ٣١- كتاب اللباس، (رقم الحديث: ٤٠٢٣).

(٢) سنن ابي داؤد: ٣١- كتاب اللباس، (رقم الحديث: ٤٠٢٠).

(٣) سنن ابي داؤد: ٣١- كتاب اللباس، (رقم الحديث: ٤٠٢٠).

## د کالو کښلو دعاء

﴿بِسْمِ اللهِ﴾ (١)

ژباړه: د الله تعالی په نامه سره (دا جامه باسم).

کله چي د کالو ایستلو پر وخت ﴿بِسْمِ اللهِ﴾ وویل سي؛ نو د ﴿بِسْمِ اللهِ﴾ په وجه شیطان د ده عورت ته نسي کتلای.

## واده کوونکي ته دعاء

﴿بَارَكَ اللهُ لَكَ، وَبَارَكَ عَلَيْكَ، وَجَمَعَ بَيْنَكُمَا فِيْ خَيْرٍ﴾ (٢)

ژباړه: الله تعالی دي تا لره برکت درکړي او پر تا دي برکت وکړي او تاسو دواړه دي په خیر سره یوځای کړي.

## د ترچي دعاء

ترچېدونکی به وايي: ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾، اوریدونکی به په جواب کښي ورته وايي: ﴿يَرْحَمُكَ اللهُ﴾ یعني الله تعالی دي پر تا رحم وکړي، چي کله یې جواب ورکړی؛ نو هغه ترچېدونکی به ورته وايي: ﴿يَهْدِيْكُمُ اللهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ﴾ یعني الله تعالی دي تاسي ته هدایت وکړي او الله تعالی دي ستاسي حالت سم

---

(١) مصنف ابن ابي شيبة: باب ما يدعو به الرجل اذا اراد ان يضع ثيابه، (رقم الحديث: ٢٩٧٣٥).

(٢) سنن الترمذي: ٧- باب ما جاء فيما يقال للمتزوج، (رقم الحديث: ١٠٩١).

(پر ایمان) کړي. یا دي دا دعاء وکړي: ﴿يَغْفِرُ اللهُ لَنَا وَلَكُمْ﴾ الله تعالی دي ما او تاسو ته بخښنه وکړي.( ١)

# د کافر د ترڅي جواب

﴿يَهْدِيْكُمُ اللهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ﴾ (٢)

ژباړه: الله ﷻ دي تاسي ته هدایت وکړي او الله تعالی دي ستاسي حالت سم (پر ایمان) کړي.

# د روژې ماتولو دعاء

﴿اَللّٰهُمَّ لَكَ صُمْتُ، وَعَلٰى رِزْقِكَ اَفْطَرْتُ﴾ (٣)

ژباړه: اې الله ﷻ ستا د رضا لپاره ما روژه ونیول او ستا پر رزق مې روژه ماته کړه.

# د روژې ماتولو څخه وروسته دعاء

﴿ذَهَبَ الظَّمأُ، وَابْتَلَّتِ الْعُرُوْقُ، وَثَبَتَ الْاَجْرُ إِنْ شَاءَ اللهُ﴾ (٤)

ژباړه: تنده ولاړه او رګونه لانده سول او که الله تعالی غوښتل اجر حاصل سوی دی.

---

(١) سنن ابي داؤد: باب ماجاء في تشميت العاطس، (رقم الحديث: ٥٠٣١-٥٠٣٣).

(٢) سنن الترمذي: ٣- باب ماجاء كيف يشمت العاطس، (رقم الحديث: ٢٧٣٩).

(٣) سنن ابي داؤد: باب القول عندالافطار، (رقم الحديث: ٢٣٥٨).

(٤) سنن ابي داؤد: باب القول عندالافطار، (رقم الحديث: ٢٣٥٧).

## د چا په کور کي چي روژه ماته کړي هغه لره دعاء

﴿أَفْطَرَ عِنْدَكُمُ الصَّائِمُونَ، وَأَكَلَ طَعَامَكُمُ الْأَبْرَارُ، وَصَلَّتْ عَلَيْكُمُ الْمَلَائِكَةُ﴾ (١)

ژباړه: ستاسو کره دي روژاتي روژه ماته کړي او ستا ډوډۍ دي نېکان وخوري او ملائکي دي دعاء درته وکړي.

## څوک چي په چا اوبه وچيښي هغه ته دعاء

﴿اَللّٰهُمَّ أَطْعِمْ مَنْ أَطْعَمَنِيْ، وَاسْقِ مَنْ سَقَانِيْ﴾ (٢)

ژباړه: اې الله ته خواړه ورکړه، هغه چاته چي ماته ئې خواړه راکړه او اوبه کړه هغه څوک، چي زه ئې اوبه کړم.

## په هنداره کښي د کتلو دعاء

﴿اَللّٰهُمَّ حَسَّنْتَ خَلْقِيْ، فَحَسِّنْ خُلُقِيْ﴾ (٣)

ژباړه: اې الله ﷻ تا زما مخ ښايسته کړی دی؛ نو زما اخلاق هم را ښايسته کړي.

(١) سنن ابن ماجه: ٤٥-باب في ثواب من فطرصائما، (رقم الحديث: ١٧٤٧).

(٢) مسنداحمد: حديث المقداد ابن الاسود، (رقم الحديث: ٢٣٨٠٩).

(٣) ابن حبان: ذكرمايستحب للمرء ان يسأل الله جل وعلي تحسين خلقه، (رقم الحديث: ٩٥٩).

## د مجلس په پای کښي دعاء

﴿سُبۡحَانَكَ اَللّٰهُمَّ وَبِحَمۡدِكَ، أَشۡهَدُ أَنۡ لَّا إِلٰهَ إِلَّا أَنۡتَ، أَسۡتَغۡفِرُكَ، وَأَتُوبُ إِلَيۡكَ﴾ (١)

ژباړه: پاكي ده تا لره اې الله ﷻ ستا په صفت سره، زه شاهدي اداكومه، چي ستا څخه ما سېوا بل د عبادت وړ هيڅوك نسته، زه ستا څخه بخښنه غواړم او ستا وخوا ته رجوع كوم.

## د نوي مياشتي ليدلو دعاء

﴿اَللّٰهُمَّ أَهِلَّهُ عَلَيۡنَا، بِالۡيُمۡنِ وَالۡإِيمَانِ، وَالسَّلَامَةِ وَالۡإِسۡلَامِ، وَالتَّوۡفِيقِ لِمَا تُحِبُّ وَتَرۡضَى، رَبِّيۡ وَرَبُّكَ اللّٰهُ﴾ (٢)

ژباړه: اې الله ﷻ ته دغه (نوې مياشت) پر موږ باندي، له بركت او ايمان او سلامتيا او اسلام سره راوخېژوه او د هغه څه د توفيق سره چي ته ئې خوښوې او ته په راضي كيږې، (اې مياشتي) زما او ستا رب الله ﷻ دی.

## د سفر د ارادې كولو پر وخت دعاء

﴿اَللّٰهُمَّ بِكَ أَصُولُ، وَبِكَ أَحُولُ، وَبِكَ أَسِيرُ﴾ (٣)

---

(١) سنن الترمذي: ٣٩- باب مايقول اذاقام من مجلسه، (رقم الحديث: ٣٤٣٣).

(٢) ابن حبان: ذكرمايقول المرء اذا رأى الهلال اول مايراه، (رقم الحديث: ٨٨٨).

(٣) مسنداحمد: مسندعلي بن ابي طالب رضي الله عنه، (رقم الحديث: ٦٩١).

ژباړه: اې الله ﷻ زه ستا په مرسته سره پر دښمنانو باندي حمله کوم، او ستا په مرسته ئې د دفعه کېدو تدبیر کوم او ستا په مرسته تګ کوم.

## د سپرېدو دعاء

کله چي پر سپرلۍ باندي پښه کښېږدی؛ نو دا ذکر وکړئ: ﴿بِسْمِ اللهِ﴾ او څه وخت چي کښېني؛ نو بیا دا ووایاست: ﴿اَلْحَمْدُلِلّٰهِ﴾ د هغه څخه وروسته دا لاندي آیت کریمه تلاوت کړئ:

﴿سُبْحَانَ الَّذِيْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِيْنَ وَاِنَّا اِلٰى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ﴾

پاک دی هغه ذات، چي موږ ته ئې دا سپرلۍ تابع کړېده او موږ د هغه قبضه کونکي نه وو او موږ خپل رب ته خامخا بیرته تلونکي یو.

تر دې وروسته به درې واره ﴿اَلْحَمْدُلِلّٰهِ﴾ او درې واره ﴿اَللّٰهُ اَكْبَرُ﴾ ووایاست او بیا به دا دعاء ووایاست: ﴿سُبْحَانَكَ اِنِّيْ ظَلَمْتُ نَفْسِيْ فَاغْفِرْلِيْ فَاِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اَنْتَ﴾ په پاکي سره تا یادومه اې الله ﷻ ما پر خپل ځان ظلم کړی دی؛ نو ته ماته بخښنه وکړې، په رښتیا سره بېله تا څخه بل څوک ګناهونه نه سي بخښلای. (۱)

## د مقیم دعاء مسافر ته

﴿أَسْتَوْدِعُ اللهَ دِيْنَكَ، وَأَمَانَتَكَ، وَخَوَاتِيْمَ عَمَلِكَ﴾ (۲)

---

(۱) سنن ابي داؤد: باب مایقول الرجل اذا رکب، (رقم الحدیث: ۲۶۰۲).

(۲) سنن الترمذي: باب مایقول اذا ودع انسانا، (رقم الحدیث: ۳۴۴۳).

ژباړه: زه ستا دين او ستا امانت او ستا د کارونو (اعمالو) انجام الله ﷻ ته سپارم.

## د مسافر دعاء مقيم ته

﴿أَسْتَوْدِعُكَ اللهَ الَّذِي لَا تَضِيعُ وَدَائِعُهُ﴾ (١)

ژباړه: هغه الله ته دي سپارم، چي هغه ته سپارل سوی نه ضائع کيږي.

## د مسافر دعاء کور ته د داخليدو په وخت کښي

﴿اَوْبًا اَوْبًا لِرَبِّنَا تَوْباً لَا يُغَادِرُ عَلَيْنَا حَوْباً﴾ (٢)

ژباړه: زه بيرته راستون سوم، زه بيرته راستون سوم، زه د خپل رب په مخ کښي داسي توبه باسم، چي پر ما باندي هيڅ ګناه نسي پاته.

## کله چي يو مسلمان په خندا ووينې هغه ته دعاء

﴿اَضْحَكَ اللهُ سِنَّكَ﴾ (٣)

ژباړه: الله تعالی دي تا همېشه په خندا وساتي.

---

(١) سنن ابن ماجه: ٢٤- باب تشييع الغزاة و وادعهم، (رقم الحديث: ٢٨٢٥).

(٢) المعجم الكبيرللطبراني: عكرمة عن ابن عباس ، (رقم الحديث: ١١٧٣٥).

(٣) صحيح البخاري: باب صفة ابليس وجنوده، (رقم الحديث: ٣٢٩٤) -باب مناقب عمر رضي الله عنه (رقم الحديث: ٣٦٨٣)، صحيح مسلم: باب فضائل عمر رضي الله عنه (رقم الحديث: ٢٣٩٦).

## د دښمن څخه د بيري پر مهال دعاء

﴿اَللّٰهُمَّ إِنَّا نَجْعَلُكَ فِيْ نُحُوْرِهِمْ وَنَعُوْذُبِكَ مِنْ شُرُوْرِهِمْ﴾ (١)

ژباړه: اې الله ﷻ موږ تا د دوی (دښمنانو) په سینو کښې (تصرف کونکی) غواړو او په تا سره د دوی د شر څخه پناه غواړو.

## د پرېشانۍ په وخت کښي دعاء

﴿حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ﴾ (ال عمران: ١٧٣)

ژباړه: الله تعالی موږ لره کافي دی او هغه ډېر ښه کار جوړونکی دی.

## د وسوسې يا د غصې راتلو په وخت کښي دعاء

﴿أَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ﴾ (٢)

ژباړه: زه په الله ﷻ سره له ترټل سوي شیطان څخه پناه غواړم.

## د ليلة القدر دعاء

﴿اَللّٰهُمَّ إِنَّكَ عَفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّيْ﴾ (٣)

ژباړه: اې الله! ته بخښونکی یې، بخښنه خوښوې؛ نو ماته بخښنه وکړې.

---

(١) سنن ابي داؤد: باب مايقول الرجل اذا خاف قوما، (رقم الحديث: ١٥٣٧).

(٢) صحيح البخاري: باب الحذر من الغضب، (رقم الحديث: ٦١١٥)، صحيح مسلم: ٣٠- باب فضل من يملك نفسه عند الغضب و بأي شئ يذهب الغضب، (رقم الحديث: ٢٦١٠).

(٣) :سنن الترمذي: ٨٥- باب (رقم الحديث: ٣٥١٣)، سنن ابن ماجه: ٥- باب الدعاء بالعفو والعافية، ( رقم الحديث: ٣٨٥٠).

## چا چي احسان در سره وکړی هغه ته دعاء

﴿جَزَاکَ اللهُ خَيْراً﴾ (۱)

ژباړه: الله تعالی دي تا ته د خير بدله درکړي.

## د قرض اداء کولو دعاء

﴿ اَللّٰهُمَّ اکْفِنِيْ بِحَلَالِکَ عَنْ حَرَامِکَ، وَ أَغْنِنِيْ بفَضْلِکَ عَمَّنْ سِوَاکَ ﴾ (۲)

ژباړه: اې الله جل جلاله! ستا د حلالو په ذريعه مي ستا له حرامو څخه وساتې او ستا په فضل مي بېله تا څخه بل چا ته بې پروا کړې.

## د اولنۍ مېوې د ليدلو پر وخت دعاء

﴿ اَللّٰهُمَّ بَارِکْ لَنَا فِيْ ثَمَرِنَا، وَبَارِکْ لَنَا فِيْ مَدِيْنَتِنَا، وَبَارِکْ لَنَا فِيْ صَاعِنَا، وَبَارِکْ لَنَا فِيْ مُدِّنَا ﴾ (۳)

ژباړه: اې الله جل جلاله زموږ په مېوه کښې برکت واچوې او زموږ په ښار کي برکت واچوې او زموږ په صاع (پيمانه) کي راته برکت واچوې او زموږ د مُد په پيمانه کښې برکت واچوې.

(۱) سنن الترمذي: ۹۰- باب ماجاء في السبب، (رقم الحديث: ۵۶۸).

(۲) سنن الترمذي: باب- ۱۱۱، (رقم الحديث: ۳۵۶۳).

(۳) صحيح مسلم: ۸۵- باب فضل المدينة...، (رقم الحديث: ۱۳۷۳).

## د مصيبت ځپلي کس د ليدلو پر وخت دعاء

﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ عَافَانِىْ مِمَّا ابْتَلَاکَ بِهِ، وَفَضَّلَنِىْ عَلٰى کَثِيْرٍ مِّمَّنْ خَلَقَ تَفْضِيْلاً﴾ (١)

ژباړه: ټوله غوره ستاينه هغه الله ﷻ لره ده، چي ما ته ئې سلامتي راکړې ده، له هغه څه څخه چي ته ئې په اخته کړی يې او ماته ئې پر خپلو ډېرو مخلوقاتو فضيلت اوغوره والى راکړی دی.

## د باران اورېدلو په وخت کښي دعاء

﴿اَللّٰهُمَّ صَيِّباً نَّافِعاً﴾ (٢)

ژباړه: اې الله ﷻ د خير او ګټي باران ئې کړې.

## د وريځي د راتلو په وخت کښي دعاء

﴿اَللّٰهُمَّ إِنَّا نَعُوْذُ بِکَ مِنْ شَرِّ مَا أُرْسِلَ بِهِ، اَللّٰهُمَّ سَيِّباً نَّافِعاً ﴾ (ابن ماجه)(٣)

ژباړه: اې الله ﷻ موږ په تا سره پناه غواړو، د هغه شي د شره څخه چي د هغه په وجه دا را لېږل سوې دی، اې الله ﷻ د خير او فايدې باران وکړې.

(١) سنن الترمذي: ٣٨- باب مايقول اذا رأى مبتلي، (رقم الحديث: ٣٤٣١)، سنن ابن ماجه: ٢٢- باب مايدعو به الرجل اذا نظر الي اهل البلاء، (رقم الحديث: ٣٨٩٢).

(٢) صحيح البخاري: باب مايقال اذا مطرت، (رقم الحديث: ١٠٣٢).

(٣) سنن ابن ماجه: ٢١- باب مايدعوبه الرجل اذا رأى السحاب والمطر،(رقم الحديث: ٣٨٨٩).

## د باران اورېدلو وروسته دعاء

﴿مُطِرْنَا بِفَضْلِ اللهِ وَرَحْمَتِهِ﴾ (١)

ژباړه: د الله تعالی په فضل او رحمت سره پر موږ باران و اورېدی.

## د ډېر او سخت باران اورېدلو پر مهال دعاء

﴿اَللّٰهُمَّ حَوَالَيْنَا وَلَا عَلَيْنَا، اَللّٰهُمَّ عَلَى الْآكَامِ وَالظِّرَابِ، وَبُطُوْنِ الْاَوْدِيَةِ، وَمَنَابِتِ الشَّجَرِ﴾ (٢)

ژباړه: اې الله ﷻ زموږ پر شاوخوا ئې (و اوروه)، نه پر موږ باندې، اې الله ﷻ پر غرو، رغو او د شېلو په منځو او د ونو شنه کېدلو په ځايونو کې ئې و اوروه.

## د تالاندې د آواز اورېدلو پر مهال دعاء

﴿ اَللّٰهُمَّ لاَ تَقْتُلْنَا بِغَضَبِكَ، وَلَا تُهْلِكْنَا بِعَذَابِكَ، وَعَافِنَا قَبْلَ ذَلِكَ﴾ (٣)

ژباړه: اې الله ﷻ موږ ستا په غضب سره مه قتلوه او په خپل عذاب سره مو مه هلاکوه او د دې څخه مخکې سلامتي راکړه.

---

(١) صحيح البخاري: باب يستقبل الامام الناس اذا سلم، (رقم الحديث: ٨۴۶).

(٢) صحيح البخاري: باب الاستسقاء في خطبة الجمعة غير مستقبل القبلة، (رقم الحديث: ١٠١۴)، صحيح مسلم: ٢- باب الدعاء في الاستسقاء، (رقم الحديث: ٨٩٧).

(٣) سنن الترمذي: ۵٠- باب ما يقول اذا سمع الرعد، (رقم الحديث: ٣۴۵٠).

## د استسقاء لپاره دعاء

﴿اَللّٰهُمَّ اسْقِنَا غَيْثًا مُّغِيْثًا، مَرِيْئًا مَّرِيْعًا، نَافِعًا غَيْرَ ضَارٍ، عَاجِلًا غَيْرَ آجِلٍ﴾ (١)

ژباړه: اې الله ﷻ! پر موږ داسي باران واوروه، چي نجات ورکونکی، ډېر ښه، وابښه شنه کونکی، فايده رسوونکی، بې ضرره، ژر کېدونکی او نه ځنډېدونکی وي.

## د مريض د پوښتني کولو فضيلت

﴿قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَا عَادَ الرَّجُلُ اَخَاهُ الْمُسْلِمُ، مَشٰى فِيْ خِرَافَةِ الْجَنَّةِ حَتّٰى يَجْلِسَ، فَإِذَا جَلَسَ غَمَرَتْهُ الرَّحْمَةُ، فَإِنْ كَانَ غُدْوَةً صَلّٰى عَلَيْهِ سَبْعُوْنَ اَلْفَ مَلَكٍ حَتّٰى يُمْسِيَ، وَإِنْ كَانَ مَسَاءً صَلّٰى عَلَيْهِ سَبْعُوْنَ اَلْفَ مَلَكٍ حَتّٰى يُصْبِحَ﴾ (٢)

ژباړه: رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي يو سړی د خپل ناروغه مسلمان ورور پوښتني ته ورځي؛ نو دی د جنت په مېوو کښي روان وي، تر څو چي کښيني، کله چي کښېنستی؛ نو په رحمت کښي پټ سي، که دا وخت سهار

---

(١) سنن ابي داؤد: باب رفع اليدين في الاستسقاء، (رقم الحديث: ١١٦٩).

(٢) مسنداحمد: مسند علي بن ابي طالب رضي الله عنه (رقم الحديث: ٦١٢)، سنن الترمذي: مذکوره دعاء په ترمذي کي د الفاظو په تغير سره ذکر سويده.

وي؛ نو اويا زره ملائکه به ده ته دعاء کوي، تر څو چي ماښام کيږي او که دا وخت ماښام وي؛ نو اويا زره ملائکه به ده ته دعاء کوي؛ تر څو چي سهار کيږي.

## د مريض د پوښتني پر وخت هغه ته دعاء

﴿لَا بَأْسَ طَهُورٌ إِنْ شَاءَ اللَّهُ﴾ (۱)

ژباړه: څه پروا نسته، ان شاء الله (دا مريضي به ستا د ګناهونو) د پاکوالي سبب وي.

کوم وخت چي د پوښتني لپاره ولاړ سی؛ نو (اوه) واره پر مريض باندي دا کلمې ووایاست:

﴿أَسْأَلُ اللَّهَ الْعَظِيمَ، رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ أَنْ يَشْفِيَكَ﴾ (۲)

ژباړه: د هغه لوی او عظمت لرونکي الله څخه سوال کوم، چي د لوی عرش څښتن دی، چي تا لره شفا او روغتيا درکړي.

(۱) صحيح البخاري: باب ما يقال للمريض وما يجيب، (رقم الحديث: ۵۶۶۲).

(۲) سنن الترمذي: ۳۲- باب (رقم الحديث: ۲۰۸۳).

## له ژوند څخه د نا امیده مریض دعاء

د حدیث شریف څخه معلومیږي کوم چا چي د مرض په حالت کښي دا لاندیني دعاء وویل: که چیري په دغه مرض کي ده لره مرګ راسي؛ نو دی به د جهنم د اور څخه وساتل سي:

﴿لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ، لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ، لَا شَرِيْكَ لَهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ﴾ (۱)

ژباړه: بېله الله جَلَّ جَلَالُهُ څخه بل د عبادت وړ (معبود) نسته الله جَلَّ جَلَالُهُ ډېر لوی دی، بېله الله جَلَّ جَلَالُهُ څخه بل د عبادت وړ (معبود) نسته، هغه یو دی، شریک نلري، بېله الله جَلَّ جَلَالُهُ څخه بل د عبادت وړ (معبود) نسته، هغه لره ټولواکي ده، هغه لره پوره غوره ستاینه ده، بېله الله تعالی څخه بل د عبادت وړ (معبود) نسته او نسته طاقت او قوت (د ګناه څخه د ساتلو او د نېکیو پر کولو) مګر د یوه الله په مرسته او توفیق سره.

## د زنکدن په حالت کي یو چا ته یادونه

د کوم کس چي د مرګ وخت رانژدي سي هغه ته باید د کلیمې تلقین ورکول سي،ځکه رسول الله ﷺ فرمایلي دي: د کوم چا چي اخري خبره (لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ

(۱) سنن الترمذي: باب ما يقول العبد اذا مرض، (رقم الحديث: ۳۴۳۰).

وي؛ نو جنت ته به داخل سي. (۱)

## د هر مرض د ليري کولو دعاء

(۱) حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي، چي زموږ څخه به کله کوم چاته څه تکليف وو؛ نو حضور اقدس ﷺ به د تکليف پر ځای باندي راسته لاس تېروی او دغه کلمې به ئې ويلې:

﴿أَذْهِبِ الْبَأْسَ رَبَّ النَّاسِ، وَاشْفِ أَنْتَ الشَّافِيْ، لَا شِفَاءَ إِلَّا شِفَاءُكَ، شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَمًا﴾ (۲)

ژباړه: اې د انسانانو ربه ! تکليف ليري کړه او شفا ورکړه ته شفا ورکونکی يې، ستا د شفا څخه ما سيوا هيڅ شفا نسته، داسي شفا ورکړه، چي يوه ذره مرض هم پاته نسي.

(۲) که چيري په بدن کښي پر يو ځای باندي درد وي، يا کوم بل تکليف وي؛ نو د تکليف پر ځای باندي راسته لاس کښېږدئ، درې واره "بسم الله" ووا ياست، تر هغه وروسته (۷) واره دا دعاء ووایاست:

﴿أَعُوْذُ بِاللهِ وَقُدْرَتِهِ مِنْ شَرِّ مَا أَجِدُ وَأُحَاذِرُ﴾

(۱) سنن ابي داؤد: باب في التلقين، (رقم الحديث: ۳۱۱۶).

(۲) صحيح البخاري: باب رقية النبيﷺ، (رقم الحديث: ۵۷۴۳)، صحيح مسلم: ۱۹- باب استحباب رقية المريض، (رقم الحديث: ۲۱۹۱).

ژباړه:زه د الله ﷻ په ذات او د هغه په قدرت سره پناه غواړم، د هغه شي له شر څخه چي (د هغه تکليف)زه محسوسوم اوزه ځني بېرېږم( ١).

## مړي ته په جنازه کښي دعاء

﴿ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهُ، وَارْحَمْهُ، وَعَافِهِ، وَاعْفُ عَنْهُ، وَأَكْرِمْ نُزُلَهُ وَوَسِّعْ مُدْخَلَهُ، وَاغْسِلْهُ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ، وَنَقِّهِ مِنَ الْخَطَايَا كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الْأَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ، وَأَبْدِلْهُ دَارًا خَيْرًا مِّنْ دَارِهِ، وَأَهْلًا خَيْرًا مِّنْ أَهْلِهِ، وَزَوْجًا خَيْرًا مِّنْ زَوْجِهِ، وَأَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ، وَأَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ أَوْ عَذَابِ النَّارِ ﴾ (٢)

ژباړه:اي الله ﷻ! ده ته بخښنه وکړې اورحم پر وکړې او عافيت ور ته ورکړې او عفوه ور ته وکړې اوغوره ميلمستيا ئې وکړې او د داخلېدو ځای ئې پراخ کړې او په اوبو، واوره اوژلۍ سره ئې ومينځې او له ګناهونوڅخه ئې داسي پاک کړې، لکه څنګه چي دي سپينه جامه له خيرو څخه پاکه کړېده او (د دنيا) له کور څخه غوره کور او له کورنۍ څخه ئې غوره کورنۍ او له ښځي څخه ئې غوره ښځه ورکړې او جنت ته ئې داخل کړې او د قبر او دوږخ له عذاب څخه ئې وساتې.

---

(١) صحيح مسلم: ٢۴- باب استحباب وضع يده علي موضع الألم مع الدعاء، (رقم الحديث: ٢٢٠٢).

(٢) صحيح مسلم: ٢۶- باب الدعاء للميت في الصلاة، (رقم الحديث: ٩۶٣).

﴿اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا، وَ مَيِّتِنَا، وَ شَاهِدِنَا، وَ غَا ئِبِنَا، وَ صَغِيْرِنَا، وَ كَبِيْرِنَا، وَذَكَرِنَا، وَ أُنْثَانَا، اَللّٰهُمَّ مَنْ أَحْيَيْتَهُ مِنَّا فَاَحْيِهِ عَلَى الْاِسْلَامِ، وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَى الْاِيْمَانِ، اَللّٰهُمَّ لَا تَحْرِمْنَا أَجْرَهُ، وَلَا تُضِلَّنَا بَعْدَهُ﴾ (١)

ژباړه: اې الله جل جلاله! زموږ ژوندي او مړي ته، زموږ حاضر او غائب ته، زموږ کوچني او لوی ته او زموږ نر او ښځي ته بخښنه وکړې، اې الله جل جلاله زموږ څخه چي چا ته ژوند ورکړې؛ نو د اسلام سره ژوند ورکړه او زموږ څخه چي چا ته مرګ راولې؛ نو د ايمان سره ئې مړ کړه، اې الله جل جلاله! د دې مړي له اجر څخه مو مه محرومه کوې او له هغه څخه وروسته مو مه ګمراه کوې.

## د کوچني د جنازې دعاء

﴿اَللّٰهُمَّ أَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ﴾ (٢)

ژباړه: اې الله جل جلاله! د قبر له عذاب څخه ئې وساتې.

---

(١) سنن ابن ماجه: ٢٣- باب ماجاء في الدعاء في الصلاة علي الجنازة، (رقم الحديث: ١۴٩٨).

(٢) الموطا للامام مالک: باب ما يقول المصلي علي الجنازة، (رقم الحديث: ١٨).

﴿اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطاً وَّسَلَفاً وَّأَجْرًا﴾ (١)

ژباړه: اې الله ﷻ! ته ئې زموږ لپاره مخکښ او اجر (جوړونکی) وګرځوې.

که د چا ماشوم مړ سي او دی ﴿اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ او ﴿إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ﴾ ووايي ؛ نو د دې کلماتو په ویلوسره الله تعالی ملائکو ته وفرمائي، چي زما د بنده لپاره یو کور په جنت کښي جوړ کړئ او د هغه نوم ﴿بَيْتُ الْحَمْد﴾ کښېږدئ. (٢)

## د مړي د ښخولو په وخت کښي دعاء

﴿بِسْمِ اللّٰهِ وَعَلٰى سُنَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ﴾ (٣)

ژباړه: د الله تعالی په نامه او د رسول الله په سنت سره ئې (ښخوو).

## د مړي تر ښخولو وروسته دعاء

﴿اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهُ اَللّٰهُمَّ ثَبِّتْـــهُ﴾ (٤)

---

(١) صحيح البخاري: باب قراءة فاتحة الكتاب علي الجنازة وقال الحسن: يقراء علي الطفل بفاتحة الكتاب ويقول: اللهم اجعله لنا فرطا وسلفا و اجرا.

(٢) الترمذي: باب فضل المصيبة اذا احتسب، (رقم الحديث: ١٠٢١).

(٣) سنن ابي داؤد: باب في الدعاء للميت اذا وضع في قبره، (رقم الحديث: ٣٢١٣).

(٤) سنن ابي داؤد: باب الاستغفار عند القبر للميت ، دغه دعاء مفهوم بالمعنى ده (رقم الحديث: ٣٢٢١).

ژباړه:اې الله ﷻ! هغه ته بخښنه وکړې، اې الله ﷻ! ته ئې (په سوال او جواب کښې) ثابت قدمه ولرې.

## د تعزيت کولو دعاء

﴿إِنَّ لِلَّهِ مَا أَخَذَ وَلَهُ مَا أَعْطىٰ وَكُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهُ بِأَجَلٍ مُّسَمًّى فَلْتَصْبِرْ وَلْتَحْتَسِبْ﴾ (١)

ژباړه: يقيناً کوم شی (اولاد، قريب وغيره) چي الله تعالى واخيستى هغه هم د الله تعالى وو او کوم شی چي هغه چا ته ورکړی دی هغه هم د الله دی او هر څه د ده په نزد تر معلومي نيټې پوري دي؛ نو دا دي صبر وکړي او د الله ﷻ څخه دي ثواب وغواړي.

## د قبرونو د زيارت کولو دعاء

﴿أَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُسْلِمِيْنَ، وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللهُ بِكُمْ لَلَاحِقُوْنَ، اَسْئَلُ اللهَ لَنَا وَلَكُمُ الْعَافِيَةَ﴾ (٢)

ژباړه: اې د دې ځايو اوسيدونکو مؤمنانو او مسلمانانو! پر تاسو دي سلام وي او ان شاء الله موږ هم په تاسو پسې يو، زه ځان او تاسو لره د الله تعالى څخه عافيت غواړم.

---

(١) صحيح البخاري: باب قول الله تبارک وتعالى: ﴿قُلِ ادْعُوا اللهَ أَوِ ادْعُوا الرَّحْمَنَ أَيًّا مَا تَدْعُوا فَلَهُ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ﴾ الاية(رقم الحديث: ٧٣٧٧).

(٢) صحيح مسلم: ٣٥- باب ما يقال عند دخول القبور والدعاء لأهلها، (رقم الحديث: ٩٧٥).

## د حج او عمرې تلبيه

﴿لَبَّيْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الْحَمْدَ وَ النِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ، لَا شَرِيْكَ لَكَ﴾ (١)

ژباړه: زه ستا حکم ته حاضر يم، اې الله! زه ستا حکم ته حاضر يم، زه ستا حکم ته حاضر يم، تا لره شريک نسته، زه ستا حکم لره حاضر يم، په رښتيا سره چي ټوله غوره ستاينه، نعمت او ټولواکي تا لره ده، تا لره هيڅ شريک نسته.

## د زمزم د اوبو چيښلو پر وخت دعاء

﴿اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْئَلُكَ عِلْماً نَّافِعاً وَّ رِزْقاً وَّاسِعاً وَّشِفَاءً مِّنْ كُلِّ دَاءٍ﴾ (٢)

ژباړه: اې الله ﷻ! زه ستا څخه د نفع ورکونکي علم او د پراخه رزق او د هر مرض څخه د شفاء سوال کوم.

## د بيت الله شريفي د طواف پر وخت دعاء

﴿سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَرُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ﴾ (٣)

---

(١) صحيح البخاري: باب التلبية، (رقم الحديث: ١٥٤٩).

(٢) المستدرک للحاکم: بسم الله الرحمن الرحيم اول کتاب المناسک، (رقم الحديث: ١٧٣٩).

(٣) سنن ابن ماجه: باب فضل الطواف، (رقم الحديث: ٢٩٥٧).

ژباړه: پاک دی الله ﷻ او ټوله غوره ستاينه الله ﷻ لره ده، بېله الله څخه بل د عبادت وړ (معبود) نسته او الله تعالی ډېر لوی دی او هيڅ طاقت او قوت نسته (دګناه څخه د ساتلو او د نيکيو دکولو) مګر د الله ﷻ په توفيق سره.

## د عرفات په ورځ دعاء

رسول الله ﷺ وفرمايل:له ټولو څخه غوره دعاء د عرفات په ورځ دعاء ده او تر ټولو غوره (ذکر) چي ما او زما څخه مخکي نورو پيغمبرانو ويلی دی، (هغه دا دی):

﴿ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴾ (١)

ژباړه: بېله الله ﷻ څخه بل د عبادت وړ (معبود) نسته، هغه يو دی، هيڅ شريک نلري، پاچاهي يوازي هغه لره ده او هغه لره پوره غوره ستاينه ده او هغه پر هر څه قادر دی.

## د قربانی کولو په وخت کښي دعاء

إِنِّيْ وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِيْ فَطَرَ السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضَ، عَلٰى مِلَّةِ اِبْرَاهِيْمَ حَنِيْفاً وَّمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ، إِنَّ صَلَاتِيْ وَنُسُكِيْ

(١) سنن الترمذي: ١٢٣- باب، (رقم الحديث: ٣٥٨٥).

وَمَحْيَایَ وَمَمَاتِیْ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ، لَا شَرِیْکَ لَهٗ وَبِذَالِکَ اُمِرْتُ وَأَنَا مِنَ الْـمُسْلِمِیْنَ اَللّٰھُمَّ مِنْکَ وَلَــکَ عَنْ.......

ژباړه: ما هغه ذات لره خپل مخ واړوی، چا چي آسمانونه او ځمکي پيدا کړي دي، پداسي حال کښي چي زه د هرباطل دين څخه جلا يم او پر ابراهيمي دين باندي ولاړ يم او زه د مشرکانو څخه نه يم او زما لمونځ او عبادت او ژوندي کېدل او مړ کېدل ټول د الله ﷻ لپاره دي، چي د ټولو عالمونو رب دی، هغه هيڅ شريک نلري، او ما ته په همدې (توحيد) حکم سوی دی او زه اول د مسلمانانو (فرمانبرداري کوونکو) څخه يم، اې الله ﷻ دغه قرباني ستا په توفيق سره ده اوستا لپاره ده.

د عن...... څخه وروسته د هغه چا نوم يادکړه دکوم چا له طرفه څخه چې ئې حلالوې او که د خپل ځان له طرفه څخه ئې حلالوې؛ نو خپل نوم يادکړه، له هغه څخه وروسته "بِسْمِ اللّٰہِ وَاللّٰہُ اَکْبَرُ" و وايه او حلال ئې کړه. (۱)

پای

(۱) سنن ابي داؤد: باب ما يستحب من الضحايا، (رقم الحديث: ۲۷۹۵).

سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ وَسَلاَمٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

والله الموفق والمجيب وانا العبد المحتاج الى رحمة الله

محمد عبدالحى عفاالله عنه و عافاه

وجعل اخرته خيرا من اولاه

سنـــــــه : ٢٩ / رمضان المبارک/ ١٤٣٦ هجري قمري